هفته نامه
جهاد هنداره
مراة الجهاد

PROPERTY OF ACKU

فتح ده پوسته رژیم درهرات

نمایندگی میدیا درکویته از جبهات شهید افضلی از هرات گزارش می دهد مجاهدین دریك عملیات گسترده برشاهراه هرات تورغندی ده پوسته رژیم ملحد کابل در منطقه دهنه کمر کلاه تسخیر کردند .
راپور می افزاید درجریان عملیات یکنفر از قوماندانان خارندوی بنام جگرن عبدالروف عسکریار وقوماندان کندك ٥٦٠ زرهدار مستقر در هرات با ٦٠ عسکر وملیشه اسیر مجاهدین شدند.
درراپور کفته شده که یك میل توپ ٧٦ ملی متری ، یك میل ماشیندار زیو ، ٥ قبضه تفنگچه مکروف ، یکعراده تانك بردیم ، ١٦ عراده موتر خورد وکلان ، ٥١ عراده موتر سایکل ، ١٢٠ میل سلاح سبك مختلف النوع ومقادیر کافی مهمات به غنیمت مجاهدین درامده است .

په فاریاب کې دکابل رژیم ٨٠ تنه ملیشه دفاریاب مجاهدینوته تسلیم شول

دقوماندانانو شوری سیاسی دفتر دفاریاب له ولایت نه رپوټ ورکړی چی دسکندر په مشری دکابل رژیم له قواو نه ٨٠ تنه ملیشه ددغه ولایت دمرکز میمنی ښار دوزیر اباد په سیمه کی دجدی په ١٧ مه نیټه دمجاهدینو سره دمخکینی ارتباط په اساس خپلی پوستی پری ایښی اوله مجاهدینو سره یو ځای شوی دی .
رپوټ زیاتوی چی نوموړو ملیشوو له ځان سره دوه میله راکټ ، دوه پیکا ماشینداری دوه میله زیکویك ماشینداری ، ٨٠ میله کلاشینکوفونه دیوی اندازی مهماتو اولوژستیکی موادو سره راوړی او مجاهدینو ته سپارلی دی .

دوهم کال (١٨) پرله پسي (٧٠ مه) گڼه چهارشنبه د ١٣٧٠ کال دجدي ٢٥مه د١٤١٢ هـ ق درجب المرجب ١١مه د١٩٩٢ میلادي کال دجنوري ١٥مه نیټه

دافغانستان داسلامی حزب مشر محترم مولوی محمد یونس خالص

دظاهرشاه په راتلو سره به په هیواد کی دوینو ویالی وبهیږی

په ٨ مخ کي

الحاج حقاني دمنبع الجهاد عربي مجلي سره په مرکه کي :

امام یا امیر باید په خلکو حاکمیت ولري - حدود نافذ کړي شي اودمظلوم حق له ظالم څخه واخیستلی شي

په دوهم مخ کي

دالجزایرد جمهور رئیس استعفي :

په ټولو ښارونو کی دپوځ کنترول

په ٨ مخ کي

خوست له ازادی وروسته دابادی په لور

په ٣ مخ

دتیر عیسوی کال ١٩٩١ په ترځ کې :

په امریکا کی ٢٤٠٠٠ کسان وژل شوی

په ٨ مخ کي

دشهید سلیمان شاه دزرهداروغونډ قوماندان الحاج خلیل الرحمن دفرهنګي ټولني له مرستیال سره په مرکه کي :

دګردیز په جګړه کی دخدای په فضل اوکرم موږ په ډیر کم وخت کی لوی بری ترلاسه کړ

په ٥ مخ

په بیروت ښار باندی داسرائیلي الوتکو وحشیانه بمباری

دبی ګناه ښځواو ماشومانو په ګډون ١٢ تنه شهیدان

په ٨ مخ کي

دامنیت شورا د١٥ غړیو لومړنی غونډه

نیویارك :
دروان کال په ترځ کی دملګرو ملتودسازمان دامنیت شورا د١٥ غړیو هیوادو دمشرانو لومړنی غونډه به دجنوری په ٣٠ مه په نیویارك کی کیږی .
درپوټونو له مخی ویل کیږی چی دشوروی اتحاد ترختمیدو وروسته به پدی غونډه کی دنړیوالو ادارو دنوی حیثیت دتعین په هکله خبری کیږی .
پدی غونډه کی به دامریکا جمهور رئیس جارج بش دروسیی جمهور رئیس یلتسین او دامنیت شورا دغړیو هیوادو نور مشران هم برخه اخلی.
دانګلستان حکومت وړاندیز کړی چی پدی غونډه کی دی دنړیوالی سړی جګړی دختمیدو وروسته په ټوله نړی کی دامنیت اوسولی دټینګښت په هکله دملګرو ملتودسازمان په مرکزی رول ټینګار وشی.

په کندهار کې درژیم یوه ډیپو داورلمبه شوه

په کویټه کی دمیډیا نمایندګی دقندهار لـه ولایـت نـه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دقندهار ښار په قول اردو بـانـدی ددرندو وسلو یو برید وکړ چی په نتیجه کی دمهماتو یوه ډیپو داورلمبه اوبو شمیر ودانی ړنګی شوی دی.
رپوټ زیاتوی چی په ډیپو کی دمهماتو دچاودنی اوازونه اوداورلمبی ترڅو ساعته پوری دلری څخه لیدل کیدی چی درژیم قواوو ته درانـه مالی او ځانی تاوانونه رسیدلی .

سرمقاله

زموږ ستونزی اودحل اساسی لار

زموږ مومن او مجاهد ملت چی کوم ستر هدف او ارمان ته درسیدو په هیله په تش لاس خو دالله (ج) دمرستی په داډ او دکلك ایمان او پخی عقیدی په کارنده وسله دیو ستر مادی ، الحادی اوطاغوتی ځواك مقابله پیل اودملیونو مومنو افغانانو دسپیڅلو وینو په برکت یی دخپل اسلامی انقلاب دمجاهدی او برحقی مبارزی ډیره تر ننه بله وساتله اودیوی ناانډوله مقابلی او جګړی په پوځی دګر کې یې ددین او وطن دښمن ته داسی شرمیدلی ماتی ورکړه چی په تدریج سره یی دلویی امپراطوری دزوال ددړی وړی کیدو اصلی او اساسی عامل وګرځید دجهاد او مبارزی په دغه روان بهیر کې چی زموږ مجاهد اولس کومی ستری فتحی او بری ترلاسه کړی ، او داسی ویاړلی کارنامی یې پرېښی چې هغه به دتل لپاره دټول اسلامي امت لپاره دعبرت درسونه او زموږ دتاریخ زرین بابونه وی ، هیڅوك ورڅخه انکار نشی کولای.
زموږ اسلامي انقلاب ، جهاد او مقاومت په ډیر کړاو له ستونزورو پړاوونو بریمن راووت ، خو اوس یې یو شمیر عواملو دوروستی

په ٧ مخ

استاد سیاف دهیواد له داخل څخه په یوه مخابروی پیام کی :

دظاهرشاه سره به هم هماغه عمل کیږی چی له کارمل او نجیب سره وشو

په ٨ مخ

روسیه واوکراین درمورد کشتي جنگي دربحیره سیاه به موافقه رسیدند

درصفحه ٨

مولوی نصرالله منصور دالبنیان آژانس سره په مرکه کي :

دافغانستان اوسنی وضعه دظاهرشاه دبی کفایتی نتیجه ده

په ٨ مخ کي

دنبوي (ص) لمر زرینې وړانګې

په ٣ مخ

افغانانو «سومنات» مات کړ، دانګریزانو امپراطوري یې ماته کړه اودادی اوس یې دروسي امپراطوری دماتي اورنګیدو ویاړ هم وګاته .
الحاج حقاني

جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتاسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

براعظم آسیا ونظام جدید جهاني

عبدالوکیل

اکنون که امپراطوری خون اشام کمونستی روس منحل گردید ، ایالات متحده امریکا منحیث ابر قدرت یگانه وبی حریف نظامی در جهان میخواهد نفوذ خویش را در سراسر جهان بیش از پیش افزایش دهد ولی دراین مورد ازهمه اولتر در قاره اسیا به مشکلات وپرابلم های بیشتروگوناگون روبرو میباشد.درخشکه بزرگ امریکا کیوبا یگانه کشور کمونستی وضد پلان های ایالات متحده امریکامیباشد اما کیوبا ازجمله کشورهاي بشمار نمي اید که به ایالات متحده امریکا ودر مجموع به غرب خطری قابل ملاحظه راایجاد نماید در حال حاضر کمونستان کیوبا به رهبری فیدل کاسترو میخواهند سیستم کمونستی رادرکیوبا حفظ وپرابلم های متنوع بخصوص اقتصادی خویش را رفع نمایند.در قاره افریقا دولت لیبی به رهبری قذافی مورد توجه ایالات متحده امریکا ومتحدین غربی ان ها میباشند وبه اشکال مختلف انرا تهدید مینمایند تا توانسته باشند خود را دراین قاره نیز از مخالفین نجات دهند.در براعظم اسیا دولت عراق به رهبری صدام حسین باوجود تلفات وضربه مستحکم نظامی واقتصادی ایکه ازجانب ایالات متحده امریکا ومتحدین انها متحمل گردید تاحال از مخالفت با پلان های ایالات متحده امریکا روگردان نشده است لاکن درحال حاضر ایالات متحده امریکا از دولت اسلامی ایران نسبت به دولت صدام احساس خطر بیشتر می نماید زیرا که کشور ایران ازیك سو آهسته آهسته به یك قدرت نظامی واقتصادی خلیج فارس مبدل می گردد وازسوی دیگر قدرت سیاسی ان در دست بنیاد گرایان اسلامی شیعه مذهب قرار دارد که در بعضی مناطق حساس جهان از نفوذ برخوردار بوده وطرفداران عقیدوی خویش را دارا ست .با وجود انکه در کره شمالي،ویتنام ولاوس دولت های کمونستی که از روس ها متاثر میباشند حاکم اند اما هر گاه دولتین مذکور خود رابه چین نزدیکتر سازند لقمه نخواهد بود تاکسی انرا به اسانی بلع نماید .

برما کشور دیگر اسیاي میباشد که دربین شرق وغرب ولی متمایل به شرق زندگی میکرد واکنون نیز سعی می ورزد تا این حالت را حفظ نماید و با وجود همه مشکلات ونارسایی های که در ساحات مختلف زندگی دارد بازهم درکشور خویش و جهان مخالف نظم جدید بوش میباشد .

هند کشور یست که با وجود سیستم اقتصادی وسیاسی سرمایه داری با درنظر داشت موقعیت جغرافیایی خویش تا هنوز درمقابل پروگرام نظم جدید ایالات متحده امریکا قرار دارد.هندوستان زمانیکه بعد از جنگ جهانی دوم استقلال سیاسی وملی خویش رابدست اورد الی اکنون به معضله سرحدی با پاکستان وچین درگیر اختلافات میباشد رهبری دولت هندوستان بعد از حصول استقلال ملی از استعمار انگلیس در دست خاندان گاندی قرار گرفت وبرای حفظ استقلال و تمامیت ارضی خویش با روسها نیز روابط نظامی ، اقتصادی و سیاسی نسبتاً مستحکم را بر قرار نمود و از سلاح های ساخت روس در جنگ های خورد وبزرگ بین پاکستان و هندوستان وچین هندوستان استفاده نمود"در حال حاضر که امپراطوری کمونستی روس تجزیه گردیده است هندوستان نیزدچار به یك سلسله مشلات نظامی وهم تا حدودی اقتصادی گردید ، روی این ملحوظ است که بخاطر عادی ساختن روابط با دولت کمونست چین اقدام نمود و چین نیز مشتاق یافتن دوستان جدید در جهان بخصوص در اسیا وسرحدات خویش بوده و در حال حاضر تلاش بیشتر نسبت به قبل بخرچ می دهد همین عوامل بود که دراین اواخر صدراعظم چین سفر رسمی به هندوستان نمود و معاهدات متنوع رابه امضا رسانیدند اما با وجود همه تلاش ها وامکانات که هندوستان جهت حفظ هویت قبلی خویش دارد به یك سلسله مشکلات جدید روبرو می باشد که میتوان دوری فامیل گاندی از سیاست"نداشتن منبع خرید سلاح های مدرن"افزایش روز افزون نفوس وعرض اندام یگانه ابر قدرت در جهان معاصر را نام برد .

در حالت جاری چین که دارای سیستم دولتی کمونستی هست نسبت به تمام دول که در فوق از انها ذکر بعمل امد در محراق توجه ایالات متحده امریکاو متحدین غربی انها قرار دارند .

با ظهور دو ابر قدرت جهانی (امریکا ، روس) که بعد از جنگ دوم جهان عرض اندام نمودند وبمیان امدن اختلافات دولت کمونست چین با دولت کمونست روس"حزب ودولت کمونست چین به رهبری

بقیه درصفحه ۷

امام یا امیر باید په خلکو حاکمیت ولري - حدود نافذ کړي شي اودمظلوم حق له ظالم څخه واخیستلي شي

پوښتنه :ستاسی په نظر دگردیز جنگ داوږدوالی عوامل څه ؤ؟

ځواب : الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی رسوله الکریم اما بعد !

محترما! دخوست جگړه دهغی له فتحی نه مخکی دیوی یا دوو میاشتو په موده کی نه وه شروع شوی په خوست باندی جگړه د۱۲ یا ۱۳ کالو په اوږدو کی روانه وه اوپه تدریج سره دهغي ماحول او تانی فتحه کیدلي اومجاهدین ښار ته نژدی کیدل اوپه یوه کال کی دحکومت یوکمربند ماتیده اوبل به یی تاسیساوه .

دخوست تر فتحی څلور میاشتی مخکی موږ داسی نتیجی ته ورسیدو چی اوس موږ دخوست میدانوته دومره نژدی یو چی که حمله وکړو خط ماتیږی اوموږ زاړه میدان ته اوبیا دبلی حملی په ترڅ کی نوی میدان ته رسیږو تر هغی وروسته دحملی پروگرام وضع شو جنگ شروع شو اودا ډیرو جنگونو او دمحاصري د اوږدوالی نتیجه وه چی خوست فتحه شو.

په گردیز باندی په مخکی کلونو کی مسلسل او متواتر جنگونه ندی شوی اولکه خوست هوایی او زمینی مکمله محاصره نه ده شوي .

لکه چی په خوست جنگونه شوی او ماحول او تانی یی فتحه شوی که په گردیز داسی جنگ دوام کړای وای او واوره نه واي شوی نو گردیز فتحه کیده خو څرنگه چی داجنگ مسلسل ندی شوی اوس چی جنگ شروع شو هوا سړه وه اوپخواهم منظم جنگونه پری ندی شوی محاصره یی نده مکمله شوی دموسم له امله هم فتحه لرې ځنډیده بله وجه داده چی ما دقوماندانانو سره داخبره کړی وه چی تاسی دتیری د لاری مسولیت په غاړه واخلی زه به په گردیز حمله وکړم یاماته تیره وسپاری تاسی په گردیز حمله وکړی .

خو دوی داوویل چی پنځه شورا گانی چی پنځه زره

> ددښمن تلفات ډیر زیات و په گردیز کي زموږ توپچي په عسکري ځایونو ډیر دقیق انداخت کاوه کومي حساسي منطقي چي موږ ونیوي رژیم کوښښ کاوه چي بیرته یي ونیسي

نفره کیږی او ثقیله وسله هم لری دوی به دتیری لار بنده کړی .

دلوی تردی دعوی وروسته هم چی ما کشف وکړ زه مطمین نشوم دوی ته می وویل چی که تاسی دغه لار بنده نکړی پر گردیز حمله دومره موثره نشی واقع کیدای خو دوی موږ ته اطمینان راکړ موږ چی حمله وکړ حمله مسلسله وه موږ ډیر وړاندي ولاړو موږ په ۹ بجو راپورترلاسه کړ چی لار بنده ده موږ په ۲ بجو پدغه شپه کی دخپل پروگرام تجدید کاوه او احضارات مونیول خو په ۱۱ بجو ددښمن قوا راتیره شوه او موږ ته چا راپور رانکړ چی قوه ورتیره شوه قوه زموږ مخی ته ودریده او موږ له ښاره دباندی په جگړه مصروف شوو.

څکه نو ویلی شو چی دځینو قوماندانانو عدم همکاری هم پدی برخه کی رول درلود چی پځ دی تولله موده کی یی لار بنده نکړه .

وروسته بیا واوره وشوه او جگړه یو څه بنده شوه ددغه مشکل له امله دگردیزبشپړه فتحه لرې ځنډیده خوپه حقیقت کی دامشکل دتیری دلاری دنه بندیدو له امله وو.

بله وجه داهم وه چی په خوست باندی په تدریجی دول عملیات وشول تورغر، لکنو، بړی او نور فتحه شول بیا لویه حمله وشوه په گردیز باندی داسی عملیات ندی شوی.

پوښتنه : دگردیز اهمیت ددښمن او مجاهدینو له نظره څه ور دی ؟

ځواب : په گردیز کی له پنځه کیلو متره مربع ساحی څخه پرته پکتیا ازاده ده، پکتیکا ازاده ده په غزني کی هم له مرکز پرته ډیره منطقه ازاده ده نولدی امله چی دلته دمجاهدینو ډیر قوت پروت دی او دلاری په منځ کی پروت دی نودلاری دبندوالی او اکمالاتی خط دامتداد له مخی ډیر اهمیت لری، لوگر خپله څه خاص اهمیت نلری یوازی دپکتیا اوکابل تر منځ داتصال یوه نقطه ده گردیز څومره چي مجاهدینو ته اهمیت لری دښمن ته هم هملومره مهم دی .

پوښتنه : فعلاً دگردیز اقتصادی او نظامی وضعه څرنگه ارزیابی کوی ؟

ځواب : دگردیز ټوله وضعه که هغه اقتصادی ده که دسونگ دموادو له اړخه په هره برخه کی دوی ډیر کمزوری دی دروسیی مشکلاتو هم پدی اثر کړي دایوه لار چی په تیره خلاصه ده دلته هم مشکلات لری په نورو لارو یی اکمالات نه کیږی دسونگ موادنه شی پیدا کولی دخوراکی موادو او دتیلو له اړخه ډیری ستونزی

> په گردیز کي له پنځه کیلو متره مربع ساحي څخه پرته پکتیا ازاده ده پکتیکا ازاده ده اوپه غزني کي هم له مرکز پرته ډیره سیمه ازاده ده

لری دپیسو په مقابل کی چی دښمن څه ملیشه راوستلی وه دهغوي هم اوس پښی نه ټینگیږی .

دښمن دخوراکی موادو له کمبود سره مخامخ دی همدارنگه دافکر ورسره دی چی که مخکی جنگ کیده خپونظام اویوه نظریه وه اوس چی هغه نظریه په روسیه کی رنگه شوه اوبنیادیي رنگ شو اوس پدغه نظریه او گوند هیڅ تکیه نشته ددوی زړونو ته داهم لویدلی چی دنجیب رژیم ملت نشی منلی نه یی دنیا منی نه یی نور اړخونه اوقوتونه منی، دوی اوس دامنلی چی دا رژیم ختمیدونکی دی پخپل مستقبل باندی فکر کوی ډیر عسکر او صاحب منصب همدا خبره کوی چی په بی شعوری او تجاهل کی باید ځان ونه غورځوی لکه په خوست کی چی یی داسی وکړل.

پوښتنه :که په گردیز کی دمجاهدینو اوددښمن دتلفاتو په هکله معلومات راکړی ډیره مهرباني به مو وي ؟

ځواب : ددښمن تلفات ډیر زیات دی پر گردیز کی زموږ توپچی په عسکری ځایونو ډیر دقیق انداخت کاوه کومی حساسی منطقی چی موږ ونیوی دښمن کوشش کاوه چی بیرته یي ونیسی څرنگه چي دښمن په نابلده افرادو تعرض کاوه ځکه دهغوی تلفات ډیر زیات و دمنطقی او مجاهدینو له وضعیت څخه ناخبره وو.

خوالحمدالله دمجاهدینو تلفات دومره زیات نه دی ددښمن ۱٤۰ تنه افراد ژوندی ونیول شول چی صاحب منصب ټانکستان او نور فنی افراد پکی شامل دی .

دمړیو څخه خویی یو والی ووژل شو یو جنرال جبار پهلوان له ملیشو څخه ووژل شو دګروالان خویی ډیر وژل شوی دي مهم کسان یی مړه او زخمیان شول ډیپو گان یی وسوځیدل چاودنی او اور به په ساعتونو روان وو.

ټانکونه اوموټر یی ډیر زیات تخریب شوی اته ټانکونه اویو محاربوی ماشین مجاهدینو روغ نیولی ډی. سی،او ایم سی توپونه بی ام ١٤ او نور واړه او غټ هاوانونه شلکا او نوری دوسلی او مهماتو ډیري ذخیری یی نیولی دی دښمن ته ډیرتلفات رسیدلی او ۱۸ ټانکونه یی یوازی په یوه ورځ تخریب شول داما په خپلو

په ٦ مخ کي

خوست له آزادۍ وروسته د ابادۍ په لور

شهرت ننګیال

دافغانستان دجهاد په تاریخ کی دخوست تاریخی معرکی او ستری فتحی یو ځانګړی او زرین باب پرانیست، ددغی تاریخی معرکی بریالی جنګی ستراتیژی له یوی خوا دجهاد په وسله وال بعدکی یو نوی لوری په ګوته کړ او له بلی خوایی دقضیی په سیاسی اړخ کی هم دیو لړنویو بدلونونو او انکشافاتو بهیر جوت او ګړندی کړ.

دخوست فتحه په نړیواله سطحه دقضیی په رابطه دسیمه ایزواو نړیوالو تحولاتو باعث وګرځیده او دایی ثابته کړه چی مجاهدین دجګړی په ډګرکی دخپل بری او برلاسی له پاره له پوره ځواك او صلاحیت څخه برخمن دی.

> دخوست فتحه په نړیواله سطحه دقضیي په رابطه دسیمه ایزو اونړیوالو تحولاتو باعث وګرځیده او دايي ثابته کړه چي مجاهدين دجګړي په ډګر کي دخپل بري اوبرلاسي له پاره پوره ځواك اوصلاحيت څخه برخمن دي

له همدی ځایه وه چی دخوست فتحی دافغانستان په کوټ کوټ کی دفتحو او یو مخیزو عملیاتو بهیرونه خوځند کړل او مسلط شوی رکود او بن بست یی له یوی مخی مات کړ.

که څه هم دتیری دوولس کلنی جګړی په جریان کی دخوست تأسیساتوته دکتنی وړ زیان او ښتی اود یوی سختی، خونړی او اوږدی جګړی جریان دخوست دطبعی جوړښت په خد او خال سوځونکی لمبی بلی کړی خو پدی کی هیڅ شك نشته چی دیوه ستر، حیاتی او عظیم هدف لپاره ددغه ډول ضایعاتو او زیانونو زغم دهغو ولسونو لپاره چی دخپل اعتقادی او تاریخی مسوولیت له مخی دآزادی یوه عظیمه معرکه دخپلو سرونو په بیه پر مخ بیایی دومره ستونزمن نه ګڼل کیږی.

ولسونه دخپلی منلی او عالمانه رهبری په برکت او دخپلونه ستړیدونکو هلوځلو او مټو په زور دغه ډول تاوانونه او زیانونه په لږ وخت کی جبران کولی شی.

له همدی ځایه ده چی دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دوسله وال جهاد په څنګ کی دسیمی دابادی او هلته اقتصادی، روغتیایی او تعلیمی مسائلو ته داولیت حق ورکړی -ځکه خو یی دخپلو عمرانی پروګرامونو دعملی کولو لپاره بیله دی چی څوك ورسره لازمه مرسته وکړی تر ټولو دمخه دلارو او سړکونو په جوړولو او توسعه پیل کړی او مخکی یی هم دفتحو له امتداد سره موازی او جوخت دغه مسئله په پام کی نیولی اوپدی رابطه یی خورا زیات او ضروری مواصلاتی لاری او پلونه فعال کړی دی.

دهمدغه لارو جوړول دی چی آزادو سیمو ته دخوارکی موادو اوداړتیا وړ څیزونو رسول او همدارنګه له دښمن سره په جګړه بوختو قوتونو ته دمهماتو اوتدارکاتو اکمال ممکن او اسان کرځولی اوپه آزادو سیموکی یی دروغتیایی اوتعلیمی پروګرامونو پیل او پر مختګ ته زمینه مساعده کړیده.

دهمدغه ډول لارو جوړول یواځی یوی معینی سیمی ته ګټه نده رسولی بلکی په مجموع کی یی ټول هیواد له ګڼو ستونزو څخه خلاص کړی او په زښت زیاتو مواردوکی یی دافغانستان په کوټ کوټ کی اقتصادی، اجتماعی، روغتیایی او تعلیمی چارو او پروګرامونو ته دسرعت او پر مختګ لار اواره کړیده.

هغه څوك چی دافغانستان په دننه کی اوسیږی او یاهم دمقاومت په ټولوسنګرنوکی پراته دی اوپه یوډول نه یو ډول دهیواد له داخل سره په ارتباط کی دی ددغه لارو دجوړولو او احداث په اهمیت او ارځښت ډیر ښه خبر دی چی څومره د مقاومت دبری او دخلکو دورځنی ژوند په کچه تامیدلی شی او پدی رابطه څومره ستر نقش لوبوی.

دجګړی په جریان کی زیانمن شوی خوست دهمدغو مؤثرو عمرانی پروګرامونواو مقدماتی مخکنیو امکاناتو له مخی دابادی خواته نژدی کیږی، پدی توګه دخوست له آزادی وروسته دخوست دابادی او بیاودانولو لپاره دخوست دفاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دپرله پسی هدایاتو او ځانګړی پاملرنی له مخی دیو لړ ضروری پروګرامونو له لاری دجګړی په جریان کی دمنځته راغلی هری ورانی په ځای دابادی بنیادونه ایښودل کیږی.

دجګړی په جریان بیا دیوداسی خونړی او اوږدی جګړی په جریان کی ورانی طبعی خبره ده چی خلاصون تری ناشونی کاردی، خوله جګړی وروسته ددغو ورانیو ودانول په ریښتیا هم چی له ولسونو څخه یو بل امتحان اخلی او دیوه بیدار ملت لپاره هم اساسی خبره داده چی دجګړو په جریان کی منځ ته راغلی ورانی ابادی کړی اوهلته له پخوازیات دعمرانی چارو اودودانولو دپروګرامونولړی اوپروسه غښتلی کړی.

له همدی ځایه ده چی دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دخوست په ورانیو او بربادیو دابادی او ودانی بنسټونه کیښودل او پدی رابطه یی دخپلو مخکنیو هڅو او کوښښونو مسیر ګړندی کړ.

> له همدي ځایه ده چي دخوست فاتح الحاج مولوي جلال الدين حقاني دخوست په ودانیو او بربادیو دآبادي او ودانۍ بنسټونه کیښودل اوپه دي رابطه يي دخپلو مخکنيو هڅو او کوښښونو مسير ګړندي کړ

که څه هم جګړی ته لاهماغسی ضرورت او مجبوریت موجود دی لکه دروسی یرغلګرو پوځونو په وخت کی چی وو، ځکه لاتراوسه په هیواد کی دهماغه وحشیانه تیری بقایاوی موجودی دی او دولس دارادی پر خلاف دهماغه تیری دوام په ځای پاتی دی له همدی امله ده چی له تراوسه په هیوادکی جګړه دوام لری او خوست ته څیرمه په ګردیز کی هم سختی جګړی روانی دی او ددښمن دوحشیانه بمباری او سګ ویشتنی سلسله هم ختمه شوی نده، خو ددی سره سره دالحاج مولوی جلال الدین حقانی دځانګړی پاملرنی له مخی په خوست کی دعمرانی پروګرامونو دعملی کولو نیکمرغه پیلامه شویده دغو عمرانی پروګرامونو په سرکی تعلیمی او روغتیایی کارونو اواجتماعی ربړو او مسائلو ته ځای ورکړی شوی اودیوه منلی اجتماعی سیستم او ټولنیز و روابطو دایجاد لپاره یی دټولنیز و امورو ځینی مؤثر پروګرامونه په عملی ډګرکی پلی کړیدی، دلته ده چی دخوست فاتح پدی وروستیوکی خوست ته مسلسل سفرونه کړی اوله نژدی یی دحالاتو او وضعی څخه لیدنه کړی.

پدی لړکی دخوست مرکزی جامع جومات چی دجګړی په جریان کی زیانمن شوی دحقانی صاحب دځانګړی پاملرنی او هدایت له مخی ترمیم او دجمعی لمونځونو

په ٦ مخ کې

دنبوی (ص) لمرزرینی وړانګی!

ژباړه اولندیز : رحیمزي

دبشریت دستر لارښود اوداسلام دمحبوب پیغبمر حضرت محمد (ص) دجلیل القدره صحابه وو په هکله زیات څه لیکل شوی او خپاره شوی ولی پدی هکله چی څومره ولیکل شی اوڅومره وویل شی بیا هم کم دی.

دادی ددی ګڼی څخه وروسته موتردی عنوان لاندی په پرله پسی توګه دحضرت محمد (ص) دصحابه وو، دژوند دحالاتو په هکله دیو لړ معلوماتو دخپراوی هوډ کړی، چی له لوی خدای څخه هیله مندیو چی هم دهغی دپای ته رسولو توفیق راکړی، او هم ددغو لوړ همته او با عزمه انسانانو په پله دپل ایښودو همت.

دالله (ج) توره (سیف الله) خالد بن ولید (رض) :-

«الصلوة جامعة» دغه غږ دمدینی منوری په کلیو اوکوڅو کی پورته شو، هر چا چی داغږ واورید خپل کار وبار یی پریښود اودنبوی (ص) جومات لوری ته روان شول، حتماً کوم مهم خبر راغلی دی، ددری زره مسلمانانو یو لښکر دحضرت زید بن حارثه (رض) ترقوماندی لاندی دشام دسرحدی ریاست (بصری) دحاکم لوری ته استول شوی وو، چاچی درسول کریم (ص) قاصد په شهادت رسولی وو دهغی زمانی دلوی نړیوال قوت سره دمدینی منوری لوړوکی او نوتشکیله اسلامی امارت لومړی مقابله وه هر سړی دشام څخه راتلونکو خبرونوته دډیر اضطراب اوتشویش سره منتظر وو، شپه او ورځ داسلام دلښکر دفتحی او بری لپاره دعا ګانی کیدلی.

کله چی په نبوی (ص) جومات کی خلك راټول شول نو رسول الله (ص) دخپلی مبارکی حجری څخه راووت، په خلکو باندی سکوت خپور شو، حضور اکرم (ص) وړاندی لاړ او منبر ته یی تشریف یو وړ، دټولو حاضرینو سترګی دیوه عالم عقیدت او محبت سره دحضور (ص) په مبارکو سترګو کی خښی شوی دحضرت پیغمبر ص په سترګو کی اوښکی راغونډی شوی وی ولی په غږ کی یی دټل په شان سکون اووقار وو.

رسول کریم (ص) وفرمایل تاسی ته دلښکر خبر رسیدلی؟" حاضرین ټول غوږ غوږ شول، دزړونو درزا، نوره هم ګړندی شوه، رسول اکرم ص زیاته کړه :« دغه خلك لدی ځایه په روانیدو سره ددښمن سره لاس او ګریوان شول، زید (رض) په شهادت ورسید، او جعفر (رض) داسلام بیرغ اوچت کړ دښمن هغوی محاصره کړل جعفر (رض) په میړانه جګړه وکړه اوپه شهادت ورسید، وروسته عبدالله بن رواحه (رض) داسلام بیرغ په اوږه کړ ...» حضور اکرم (ص) غلی شو په زړونو کی بیلابیلی وسوسی په راپیدا کیدو شوی دانصارو صحابه ؤ څیرو تغیر وخوړ، رسول اکرم (ص) ترلږ وقفی وروسته وفرمایل : « هغه هم په ثابت قدمی سره وجنګید اوشهید شو »

دانصارو په څیرو کی دغم او خوښی ګډ اثرات وځلیدل، رسول کریم (ص) وفرمایل :« دغه ټول سناغلی دجنت په ماڼیو کی په زرینو تختونو ناست دی »

پیامبر (ص) خپلو خبرو ته ادامه ورکړه :« تردی وروسته داسلام بیرغ خالد بن ولید (رض) اوچت کړ، دتنوور اور ښه تود شو، او هغه ګهوړه اوضاع کنترول کړه، هغه دالله (ج) له تورو څخه یوه توره ده » (سیفٌ من سیوف الله)

دغه کیسه دموتی دغزا او دهجرت داتم کال پیښه ده، دحضرت خالد (رض) له اسلام راوړلو څخه یوازی دری میاشتی تیری شوی وی، کله چی دغه جګړه پیښه شوه، داسلام تر بیرغ لاندی دخالد (رض) جنګی تدبیر او قائدانه استعداد دلومړی ځل لپاره راښکاره شو، درسالت له دربار څخه هغه ته د(سیف الله) نوم ورویښل شو اوده خپل ځان ددی نامه پوره پوره اهل ثابت کړ.

د(الله (ج) توره) به چی هر لوری ته وځلیده، ددښمن لښکری به یی صفا کړی، دفتحی اونصرت قدمونه به یی واخیستل اودباطل قوت او عظمت به یی خاوری ایری کړ.

خالد (رض) سیف الله دقریشو په یوی معززی کورنی « بنو مخزوم » پوری تړلی وو، دهغه والده « لبابه » دحارث الهلالیه » لور وه، ام المومنین میمونه (رض) دحضرت خالد (رض) تروروه، یوه بله ترور یی دحضرت رسول کریم (ج) دتره حضرت عباس (رض) میرمن وه

دخالد (رض) داسلام تر راوړلو مخکی چی دقریشو له مسلمانانو سره څومره جګړی شوی، پدی ټولو کی دهغه ښکاره نقش موجود وو.

خالد (رض) دعسکری قوماندان په صفت دلومړی ځل لپاره داحد په جګړه کی میدان ته راغی، هغه پدی جګړه کی دقریشو دلښکرو دښی اړخ (میمنی) قوماندان وو اودده دجنګی پوهی په اساس دجګړی نقشه بدله شوی وه، حضرت رسول الله (ص) داسلامی لښکر تم ځای (کمپ) دپوځی اهمیت له مخی په ډیر محفوظ اومطمین

په ٦ مخ

جهادي ادب

سري وی تکی سپیني وی چی تویی شوی
مرگ زموره دمړيني وی چی تویی شوی
ولاړی څمکی وخوړی او ورکی شوی
اوښکی وی او ويني وی چی تویی شوی

ننگیالي اوخاطری

شاوخوا ته خلك وويني چی گرځی راگرځی نو په زړه کی یی یوه توده هیله سرراوچت کړی زړه یی غواړی دی هم وگرځی شاوخوا ته منډی واخلی ... نه نه ! زړه یی غواړی چی روغ رمټ وی پښی یی روغی وی اوبیا دننگونو او غیرتونو ډگر ته ورشی .

هوکی ! همدایی هیله ده ، همدا یی ستره ارزو او ارمان دی خو نور یی دغه ارزو دعنقا مرغه ورسره الوزولی ده او دادی دلته شوټ بوټ ناست دی .

پښی یی غبرگی په ورنونو کی غوځی دی چیرته ؟... بس ددی پوښتنی ځواب نو بیا دتوپانونو اووربو کیو په توندو څپو کی دی .

هلته چی اوسپنه او ایمان دیو بل مخی ته راوتلی وو ، هلته چی دباروتو او غوښو مقابله روانه وه او هلته چی مومن افغان له بی دینه روس او الحادی لښکرو سره دډغرو ډگرته راوتلی و ، دی هم دافغانی شاه ځلمیو دقافلی یو اتل لاروی ؤ ، دهغه قافلی چی داور ، وینو او ویرونو په سمندرکی یی مزلونه وو ، دهغه قافلی چی په شهادت پسی سرگردانه ده اوبالاخره دغه ننگیالی میړه خپلی دواړه پښی پرخپل هیواد دالهی نظام دقیام په لاره کی نذرانه کوی او زموږ داسلامی برمیال انقلاب دقربانیانو په ډله کی دربړی ویی پیژنی :

حکم خان دعزیز خان زوی دپکتیکا ولایت دارگون دلویی ولسوالی اوسیدونکی دسلمان فارسی (رض) دغونډ مجاهد دی

لومړی ځل دجلال آباد په ستره جگړه کی ټپی شو او تر څه وخت وروسته بیر ته روغ شو ، دخوست دبریمنی فتحی نه یوه ورځ وړاندی یی راکټ پر اوړه و او ددښمن دټانکونو په انتظار چی په یوه سترماین وربرابربړی او دچاودنی په اثر یی دواړه پښی غوځی شوی .

هرڅومی که په کور کی خزانونه اړولي
په تمه او اسره دیوه بهاد باندی ورځم

:شپو ښامارمی لاره ده ډب کړی دمزلونو
خوبیرته نه ستنیږم په ښامار باندی ورځم

دستم کور

عطاالله سندان

نن سور استعمار دبشریت دښمن
چاوڼلی پروت دی په سرو وينو کی
پرېږده چی پدی لعنتی ځاله کی
وسوزی ایره شی په اورونو کی
دادشر پسندو ستمگرو کور
تل به وی محکوم په تاریخونو کی
نشته دمسکو په کریملین کی ځوك
هغه دفساد په دفترونو کی
هغه دفتنو اودسیسوځای
ورکه شو ه څپو دطوفانونو کی
تیری زمانی دظلمتونو شوی
وینه شوه تازه په ولسونو کی

دیو والی په لور

عاصم ثمرخیلی

وی پیاوړی هغه خلك چی راټول وی
نه یی دمینی محبت پرمنځ کی تول وی
چی ټول شوی وی دیو هدف دپاره
هسی نه چی یی ازاد په کی خیل نول وی
په خوله وایی چی یو والی مو مراد دی
مگر زړه کی یی کینه هدف یی زمول وی
چی پوری درځنی جوړه کړی لوړ خیژی
خیال کی گرځی چی فلانی دی څه په چول وی
چی همراه درسره تل په یوه لار وی
دمطلب وخت کی همیش دځان په بول وی
پس لدی به نه غولیږویو پوه شوی
داسی خلك که دکلی یا کهول وی
لویه ربه امان راکړی نور تری مورېم
که په سر باندی وی لوڅ ، که شاهی خول وی

تکل

دوحشت تصویر

سید شهریار

یونه دی دوه نه دی سل نه دی په زرهاوو دی یواځی په دیکی هم نه په هره یوه کی هره یوه بندیخانه دهمدغو بی گناه افغانانو څخه ډکه ده دکلونو کلونو څخه پکی دنامعلوم ورك سرنوشت په تمه پراته دی دهمدی وطن خلك دی دهمدی وطن بی گناه سوچه مسلمانان دی اودهمدی وطن دخلکو زامن ، وروڼه او پلرونه دی .

داهریو په نه کړی جرم دتورو خونړیو تمبو شاته غورځیدلی دی څوك چی دلته یو ځل ننوتی دی نو نه تری بیا پلارخبر شوی او نه تری ورور او زوی.

دغه دردیدلی اوربړیدلی دیوه بل لیدو ته تږی او لیواله دی خو څخه وکړی دداسی وحشی ځناورو پنجوته ورغلی دی چی لوحشت دکیسو انگازوی په لر اوبر دخلکو غوږونو کانه کړی اوزړونه درزولی دی .

هو ! دغه بندیخانی هم ددغو وحشی کمونستانو لوحشت بیلگی دی.

دغه بندیخانی وار په وار دبی گناه مسلمانانو څخه ډکیږی او تشیږی لورځی په سلهاوو ورننوځی او لورځی تری په سلهاوو دژوندی ښخیدو لپاره وځی خو بیا هم دغه غم لړلی بندیخانی دسترگو په څیر ډکی دی هیڅ کمی پکی نه راځی نه دخلکو اونه دظلمونو !

په ٥مخ کي

دنور ځلی

په اسلام کې داجتماعی عدالت څو بیلگی

مولانا عبدالمجید

دانسانیت او انسانی کرامت ستر لارښوونکی (حضرت محمد مصطفی (ص) چی کوم وخت دنیا ته تشریف راوړ دانسانی شرافت سپکاوی اودجهالت تورو تیارو پخپلو گردونو او دوړوکی انسانی وقاړاداب ، خوبونه ، اخلاق ... ورك کړی ؤ هر ځای او هر لور ته دجهالت اوبربریت تندی سیلی الوتلی اوانسان دانسان له لاسه دژوند څخه بیزاره ؤ.

حضرت محمد (ص) دبعثت سره جوخت په اجتماع پوری اړوند دوه عمده بی ځایه امتیازات له منځه یوړل کوم چی دجاهلی قانون او اخلاقو زیږنده وه .

۱- دادم (ع) داولادی دحقوقو برابری یی اعلان کړه ۲- دقانون(اسلامی شریعت) لوړ والی یی وساته اودقوی او ضعیف دواړو لپاره یی یو ډول احکام جاری کړل. دپورتنی قضیی داثبات لپاره دخدای (ج)دپیغمبر عملی کړنلاره په یوڅوموضوعاتو کی یادولی شو.

۱- دقریشو دبنو مخزوم دقبیلی دیوی ښځی (فاطمه اسود) څخه دغلا کولو عمل ترسره شو چی دقرانی حقیقی قانون په خلاف کار ؤ.خو قریشو غوښتل چی دابنځه باید رسوا نشی اوهڅه یی کوله چی څنگه به وکولی شی هغه دشرعی حد(سزا) څخه وژغوری دقریشو ددی غوښتنی دسرته رسولو لپاره حضرت اسامه بن زید (رض) دسزا دبخښلو سپارښتنه وکړه رسول الله(ص)وفرمایل ته له ما څخه دخدای (ج) دټاکل شوی حد بخښنه غواړی ؟ نبی کریم(ص)ودریده او خلکو ته یی مخ راستون کړ او ویی فرمایل :

ترجمه : ای خلکو له تاسوڅخه چی ړومبی کوم امتونه تیر شوی دهغوی دگمراهی دلیل داؤ چی کله به کوم شریف (مالدار ، او شتمن ، زوررور) غلا وکړه هغه به یی پریښوده او دجرم سزا به یی نه ورکوله اوچی کله به کوم ضعیف (خوار ، غریب ، کمزوری) غلا وکړه نو هغوی به په ده باندی دحد (سزا) جاری کړه نبی کریم (ص) وفرمایل زما دی په باری تعالی باندی قسم وی چی که چیری دحضرت محمد (ص) لور فاطمی غلا کړی وای نو محمد(ص)به خامخا دهغی (فاطمی) لاس وربړی کړی ؤ یعنی دسرغړونی سزا به یی ورکړی وه .

۲- کله چی نبی کریم ص دمرگ په مرض باندی اخته ؤ یوه ورځ یی دفضل بن عباس (رض) په مرسته مسجد ته تشریف یووړ دلمانځه دادا څخه وروسته په منبر باندی وخوت اوویی فرمایل : که چیری ما چاته ښکنځل (سخته خبره) کړی وی هغه دی مهربانی وکړی اوله ما څخه دی خپل کسات په همدغی دنیا کی واخلی.

اوکه ماچیرته دچا مال اخیستی وی هغه سړی دی خپل حق له ماڅخه وغواړی اویا دی راته بخښنه وکړی ترڅو زه خپل خالق او مالك ته په ډاډه زړه ورشم ، په مسجد کی دټولو کسانو څخه یواځی یو تن راپورته شو عرض یی وکړ دخدای (ج) رښتینی استاذیه په هغه فلانی ورځ تاسو له ماڅخه دری روپی پور کړی وی که مهربانی وکړی راته یی راکړی حضرت محمد رسول الله (ص) فضل بن عباس ته وویل چی ددی سړی قرض زما لخوا ورکړه.

۳- عبدالله بن جبیر خزاعی (رض) فرمایی چی یوه ورځ درسول کریم (ص) په لاس کی دکجوری یوه لښته او یا مسواك ؤ چی دهغی په واسطه دیو سړی په ملا کی داغ جوړ شو هغه وویل دخدای (ج) پیغمبره ماته دی درد او تکلیف راورساوه نو اوس ماته دبدلی اخیستلو اجازه راکړه حضرت محمد ص هماغه لښته ورکړه او ورته یی وویل انتقام دی راڅخه واخله چی رسول الله ص ملا مبارکه لوڅه کړه هغه سړی دنبی کریم ص ملا ښکل کړه اوویی ویل ماتاسو بخښلی یی خو هیله مند یم چی تاسوبهٔدقیامت په ورځ زما شفاعت وکړی.روایت دمجمع الزواید.

دپورتنیو واقعو په ډول یوه بله پلا دخلکو ډیره گڼه گونه وه دازدحام له امله دنبی کریم ص متروکه په نابیره توگه دیو سړی په ملا باندی ولگیده رسول الله ورته وویل راشه او کسات راڅخه واخله هغه سړی دنبی کریم ص څخه لښته واخیستله او بیا یی لښته په مځکه وغورځوله اوویی ویل دخدای (ج) استازیه زما یواځی همدا قصد او اراده وه چی ستاسو څخه وروسته بیا ظالمان وټکوو او بدله ترینه واخستی شو .

دمذکور اصحابی ددی طرزالعمل څخه یواځی دا مقصد څرگندیږی چی په راتلونکی کی مسلمان ملت او نړی وال ښه وپوهیږی چی دحضرت محمد (ص) په شان شخصیت پخپل ځان مبارك څه ډول دخدایتعالی احکام او فرمانونه پلی کول. اودعبرت درس ترینه زده کړی . . .

دګردیز په جګړه کې دخداي په فضل اوکرم موږ په ډیر کم وخت کي لوي بري ترلاسه کړ

پوښتنه : محترم حاجی صاحب ! هیله مندیو چی دخپل جهاد دپیل په باب موږته معلومات راکړی ؟

ځواب : اعوذ بالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم

موږ دداود دوخت د۱۳٥٤ کال څخه راپیدخوا چی زه نوی دبلوغ سن ته رسیدلی وم ، جهاد پیل کړی ، ترهغی وروسته تقریباً یویایو نیم کاله وروسته مو دلته هجرت وکړ اوداووم دڅور ترکودتا وروسته موږ دڅور په ۱۳ مه خپله لومړی حمله وکړه اوجهاد مو پیل کړ.

پوښتنه : دغه ستاسی لومړنی حمله په کوم ځای اوپه کوم مرکز باندی ؤه ؟

ځواب : دغه حمله دولیو په ولسوالی کی چی دځدرانو په منطقه کی ده وشوه اوپدی حمله کی دغه منطقه ټوله فتحه شوه ، او وروسته دڅور په ١٤ مه زموږ په منطقه ، زموږ په کورونو ،زموږ په مرکز چی هلته مو یو فرعی مرکز جوړ کړی وو ، دهغه وخت دجنګ مطابق حکومت په هغی باندی بمبارد وکړ ، چی څه دکلی څخه زخمی او شهیدان شول ،چی دهغی له ډلی نه په یوه فامیل کی ټول ۱۳ کسه شهیدان شول .

پوښتنه : پدغه وخت کی چی دتره کی په ضد دجهاد ابتدا وه ستاسی قوماندان څوك وو؟

ځواب : زموږ قوماندان هغه وخت هم حقانی صاحب وو.

پوښتنه :دهغی وخت نه راپیدخوا تاسی تراوسه په څومره جهادی عملیاتو کی برخه اخیستی ؟

ځواب : موږ دهغی وخت نه تراوسه پوری په اکثریت هغو عملیاتو کی چی دپکتیا اوپکتیکا په ولایاتو کی ترسره شوی ، او دجلال اباد په عملیاتو کی پدی اکثره عملیاتو کی مابرخه اخیستی وه.

پوښتنه : دجهاد په دوران کی دالهی مرستو او غیبی کومکونو په هکله تاسی کومه خاطره لری ، دجهاد په دوران کی له داسی پیښی سره کله مخامخ شوی یاست ؟

ځواب : په ډیرو جنګونو کی داسی شوی دی چی زموږ په نظر زموږ په خپل قدرت کی دانه لیدل چی موږ به پدی جنګونو کی کامیاب شو ، یا به موږ ددی محاصری څخه ځان خلاص کړو ، خو الله تعالی (ج) دخپلی خوانه امداد کړی او هغه ځای موږ فتحه کړی دمثال په ډول کله چی موږ ددرګی ولسوالی فتحه کړه او دهغی شاته دیوالم په قرارګاه زموږ حمله وه چی پدی حمله کی له موږ سره دری ټانکونه وو او ددښمن سره زیات ټانکونه وو او اول دوی حمله شروع کړه او موږ په ځواب کی په هغوی انداخت پیل کړ ، چی ددی انداخت په ترخ کی زما ټانك په ډیره کمه فاصله کی ددوی له خوا چی تقریباً ۸۰۰یا ۱۰۰۰ متره مسافه به وه وویشتل شو ، خو خدای پاك موږ وساتلو او نه موږ اونه ټانك ته هیڅ ډول ضرر ونرسید بل مثال داچی همدا اوس دګردیز په جنګ کی موږ په ماینونو باندی ټانکونه وخیژول زما ټانك ماین وغورځاوه ، خو زموږ دټانك ټول مجاهدین او عمله او ټانك خدای پاك وساتلو یوازی ټانك لږ معمولی غوندی تخریب شو .

پداسی حال کی چی موږ ګومان نه کاوه چی ددی ماین په چاودیدلو سره به موږ ژوندی پاتی شو خو الله تعالی (ج) موږ ته داسی نجات ورکړ.

پوښتنه : دجهاد په دوران کی دخپلی یوی ترخی خاطری کیسه موږ ته واوروی ؟

ځواب : دجهاد په دوران کی موږ دداسی ډیرو واقعاتو سره مخامخ شوی یو لکه یو وخت چی موږ په ډبګی کی دری ځله محاصره شوو زموږ ټولی لاری بندی وی اوله موږ سره دلاری دخلاصون لپاره هیڅ نه وو خو موږ بیا هم جنګ او مقاومت وکړ او خدای پاك موږ وساتلو او موږ راووتلو دغه پیښه تقریباً په ٥٨ یا ٥٩ کال کی وه چی موږ دډبګی په تانه باندی عملیات کول ، بیا وروسته

> موږپه ارګون باندي لویه حمله وکړه ، هلته دروسانو یو لوي کمپ وو په اشرخه کلاکي ، موږدارګون بازار ته ننوتلو چي ترحملي وروسته موږ نژدي ژوندي نیول شوي وو

موږ په ارګون باندی لویه حمله وکړه هلته دروسانو یو لوی کمپ وو په اشرخه کلا کی موږ دارګون بازار ته ننوتلو چی تر حملی وروسته موږ نژدی ژوندی نیول شوی وو ، زه اخری سړی وم چی هلته پاتی وم زما سره زخمیان او شهیدان هم پراته وو اوپدی وخت کی موږ دحکومت له خوا محاصره شو ، خو بیا خدای پاك لدی نه هم ژوندی راوویستلو .

بیا دخوست په جنګ کی کله

دنور په لور

زه ولی مسلمان شوم ؟

ابو هارون

پروفیسور عبدالله بینل « امریکایی »

پروفیسور بینل هیوت دامریکایو نومیالی مفکر او لیکوال دی هغه داوسنیو څو نومیالیو مسلمانانو له ډلی نه شمیرل کیږی اوس یی اسلامی نوم عبدالله حسن بینل دی .

***

زما داسلام قبلول کوم حیرانوونکی عمل نه دی او نه زه دڅه شی طمعی او هیلی لپاره داسلام غیږی ته راغلی یم ، زما په خیال داذهن بنیادی بدلون اودمذهب په باب دعقلی مطالعی نتیجه ده چی دبشر ذهن یی لری خو ذهن هغه وخت داسی بدلون قبلوی چی دسړی زړه اودماغ له مذهبی تعصب څخه پاك وی اوپه صاف زړه دښه او بد تر منځ توپیر کولی شی .

زه دامنم چی په عیسویت کی هم ځنی رښتیانی او ګټور اصول شته او که له دغه مذهب نه هغه بدعتی قوانین ټول لری کړای شی چی پادریانو او مذهبی مشرانو له خپله ځانه پکی ګډکړی دی نو دبشر لپاره ګټور دین تری جوړیدای شی ، اصل خبره داده چی هغو بدعتونو دعیسویت اصلی څیره مسخه کړی ده ، او اصلی روح یی تری ویستلی دی ، ددی پر خلاف اسلام په خپل همغه اصلی شکل دی څنګه چی لومړی و نو ځکه ما اسلام ومانه ځکه زه دهمداسی یوه مذهب په لټه کی وم .

که کومی کلیساته ولاړشی هم هلته دڅه تصویرونو ، بوتانو او نقاشیونه پرته نور څه نشی لیدل کیدای او بیا چی دپادیانو زرین لباس وګوری او پر شاوخوا یی راټو ل پیروان او دکلیسا خدمت ته وقف ښځی او نارینه ګوری نو ویه پوهیږی چی ددوی له معنویت سره بلکل څه اړیکی نشته داسی به ورته ښکاری چی زه دلته دعبادت لپاره نه یم راغلی بلکی دیوی داسی بتخانی سیل ته راغلی یم چی یوازی دښکلو بوتانو پرستش پکی کیږی .

او بیا چی پر جوماتونو ځغلند نظر واچوو نو هلته به نه کوم بوت وګورو اونه کوم تصویر او بیا چی لمونځکوونکی وینو چی په زرګونو تنه لوی او واړه خلك به ټول اوږه په اوږه په یوه کنار کی ولاړوی دامام لباس به ډیر ساده او سنګین وی او رښتیا خبره داده چی په لمانځه کی درکوع او سجدی ننداره دومره زړه وړونکی او له معنویت نه ډکه وی چی هیڅوك هم بی اغیزی نه پریږدی دجومات ټول چاپیریال او فضا انسان دروحانیت او معنویت په لوری ورکشوی ، هلته نه ریاشته ، نه تصنع او نه بنیادی ارایش ، خوددی پر خلاف پر عیسویت دتصنع او ریا ماحول غالب دی ، که څوك اعتراض وکړی چی دعیسویت د« پروتستانتت » فرضیه خوله داسی وضیعت نه پاکه ده ، هغوی خوله خپلو کلیسا واو عبادتخانو څخه تصویرونه او بوتان لری کړی دی نوتا داسلام پر ځای دغه مذهب ولی ونه مانه ، بیشکه پروتسیتانت فرقه حقیقی عیسویت ته نږدی ده خوزه پردی اعتراف کوم چی حضرت عیسی (ع) دخدای (ج) پیغمبرؤ خو دهغه په خدایی هیڅکله معتقدنه یم ، هغه زماپه څیر انسان واو دازمانوی عقیده نه ده ما دهغه په باب له پخوانه همداسی عقیده درلوده ، زه نه یوازی دحضرت عیسی (ع) احترام پر ځان لازم ګڼم بلکی ددنیا دهر مذهب دبانی احترام لرم . زه له اوږدی مودی راپه دی خوا داسلام په لوری مایل وم ، خوزما ایمان دومره قوی نه ؤ چی بی له مقدمی می داسلام راوړلو اعلان کړی وای ، دغه دوه زړی توب می دټولنی او یا دچا له ویری نه ؤ بلکی اصلی سبب داو چی زه داسلام له سپیڅلتیا او غوره والی نه بشپړ خبرنه وم ، خوکله می چی داسلام په باب مطالعه کوله ورو ورو می ددغه حق دین په باب دمعرفت سترګی خلاصیدلی ، ماته ددغه دین ښیګڼی او دخدای (ج) دستر پیغمبر محمد مصطفی (ص) پر انسانی نړی احسان راته څرګند یده او بالاخره می دغه له فطرت سره موافق دین ته بشپړه غاړه کیښوده .

په اسلام کی چی ما دتوحید پالنی کوم مثال لیدلی هغه په بل کوم مذهب کی وجودنلری ، او داسلام همدغی توحید پرستی زه دغه دین ته ترهر څه مخکی مایل کړم ، داسلام ډیری ستری ښیګڼی ته چی زه متوجه شوی یم هغه داده چی یوازی روحانی او معنوی ترقی ته پاملرنه نلری بلکی ورسره ورسره ددنیا دترقی لپاره هم امرکوی ، اسلام انسان ته دګوشه نشینی

په ۷ مخ کی

دوحشت ...

کوم ظلم دی کوم وحشت او بربریت دی چی په دی بندیخانو کی په دغو بی ګناه بندیانو باندی نه تیریږی؟

دوحشیانو دوحشت هره شکنجه پری ازمول شوی هر بندی په ړاګه دوحشت یو تصویر دی دچانو کان ویستل شوی اودچا ویښتان دمخونو پوستکی یی په ډیرو ډهلو تکولو تور، شنه او وختی له وجودونو یی غوښی دوریدلی سترګی ورلویدلی بدنونه یی زخمی زخمی او چاپ چا پ دی دغوږونو او سترګو په کونجونو کی دوینو وچ شوی پټری یی اوس هم دوحشت کیسی بیانوی هریو ددغو ملحدانو دوحشت یوه ژوندی بیلګه ده دغه ټوله بندیخانه دوحشت یو تصویردی هو ! دهمدغو وطنی کمونستانو دوحشت تصویر !

هر څوك ښه خبر دی چی په دی بندیخانو کی په بی ګناه مسلمانانو څه تیرشول اولاڅه تیریږی کوم کوم ظلمونه پری کیږی اوپه کوم جرم ربړول کیږی ؟ ولی بیا هم نه دی خبر ځکه هریو سترګی پټوی په سترګو لاسونه ږدی او غوږونه کڼوی څوك یی پانه هم نه اوری دچاپه یاد هم نه دی چی دلته هم څوك انسانان شته او که نه ؟

خو رښتیا دوی مجرمان دی ډیر لوی مجرمان دکمونستانو مجرمان !!! لوی جرم یی دباطل نه منل اودحق پیروی کول دی که نه هیڅکله به هم په دی زندانونو کی نه زوریدی نه به یی بند تیرولی اونه سختی نه به په تن لوڅ لیږوای اونه به په نس وږی

تږی خوکه یی دملحدانو دباطل غږ سره خپل غږ غبرګ کړی وای ...

خو ددی ټولو سختیو سره سره بیا هم یو قسم مطمین دی دثبات خاوندان دی په مخونو کی یی یو قسم نور دی یوه رڼا ده اویوه تازګی ! پخپله پخه اوسوچه عقیده پوری باوری او کلك دی دغه ټولی ناخوالی ستونزی او ربړونه یی دابدی خوښیو اوکامرانیو لپاره منلی او زغملی دی .

یوه ته یی هم سر ښکته نه کړ یوه بی دینی یی هم ونه منله اویوه بی دینه ته یی هم دځان په باب زاری ونکړی .

یوه کمونست او روسی ته یی هم ونه ویل :

چی ای دوخت فرعونی وحشیانو ولی نړیوال دانسانی حقوقو په دنګورو غولوی ولی دخپلوڅو تنو بندیانو لپاره لمر په ګوتو پټوی ولی ددغو خونی بندیخانو دوحشت کیسی نه په ړاګه کوی اوولی دخپل وحشت دغه تصویرونه نړیوالو ته نه ښکاره کوی؟

هو ! دغه مات ګوډ زړی زړی افغانان دغه ستاسی دبندیخانو بندیان ستاسی دوحشتونو کیسی او ستاسی دوحشت تصویرونه ! .

امام یا امیر باید په خلکو حاکمیت ...

سترګو ولیدل څکه خویې نوی ټانکونه راوړل .

پوښتنه : دګردیز په جګړه کی دخوست له اسیرانو څخه څه کټه واخیستل شوه او که نه ؟

ځواب : عسکرو داشپزی او نان وایی په برخه کی له مجاهدینو سره مرستی کولی خوپه جنګ کی موندی استعمال کړی دنقشواوتوپچی په هکله یی هم څه معلومات راکړی دنقشی اودګردیز دداخلی حال په رابطه مو له جنرالانو څخه لږ او ډیره استفاده کړی ده .

پوښتنه : په ګردیز کی دمجاهدینو خاص مشکلات کوم دی ؟

ځواب : موږ پوهیږو چی دیخنی موسم دی ولی موږ غوښتل خط اول وساتو اوګردیز تر فشار لاندی راولو دمجاهدینو لپاره په اول خط کی دتانکونو اکمال، دمجاهدینو اکمال دیخنی بندوبست داډیر ضروري دی هلته دمجاهدینو ساتنه هم ډیر مصرف غواړی اودازیات مصرف ایجابوي .

پوښتنه : که ګردیز ازاد شی تاسی دښار دامنیت لپاره څه پروګرام لری ؟

ځواب : کیدای شی دلته ترخوست هم ښه اداره رامنځ ته شی او مجاهدین یوه مکمله دیوه ولایت په سویه اداره جوړه کړی .

پوښتنه : دعبوری حکومت له دحج او اوقافو دځانګي په نوم یوه فتوا بوله پاڼه صادره شوې وه دهغی په هکله ستاسی ځواب څه دی ؟

ځواب : هغه پاڼه بالکل بی اساسه ده ماته داسی ښکاری چی دهغي ا معنا کوونکو دفتوا محل ندی کتلی دوی پخپله لیکلی چی په اصطلاح فتوا ورکوونکي دحکومت سرکاری علماء دی او دوی یا مجبوره شوی یا یی دتنخواه په مقابل کی داکار کړی دی .

دوی باید دامامت شرایط کتلی وای دبغاوت شرطونه یی کتلی وای دامام داطاعت مواد او شروط به یی کتلی وای بیابه یی فتواورکړی وه موږ تر اوسه دغه په اصطلاح فتوا رسماً نده رد کړی ځکه موږ حضرت صاحب ته مکتوب لیږلی وو چی که دا پاڼه ستاپه رضایت صادره شوی وی نوبیا به یی موږ اصولی اوشرعی ځواب ووایو حضرت صاحب مکتوب رالیږلی وو له دی امله یی ډیر معذرت غوښتی وو دایی غندلی او وعده یی کړی چی دی به پخپله دهغي تردید کوی ده خپله سهوه منلی ده که داسی ونکړی موږ به یی ښکاره ځواب ورکړو. هلته ملایانو دی خبری ته ندی کتلی چی داشرط ده چی امام به په خلکو حاکمیت لری حدود به نافذولی شی دمظلوم حق به له ظالم څخه اخیستلی شی دجهاد لپاره به عسکر برابرولی شی وروسته به دی په امیر متصف وی اوس که موږ حضرت صاحب ته ووایو چی دی په جلاوطنی کی امام دی دی په حدودو حاکمیت نلری حضرت صاحب دجنګ لپاره عسکر ندی برابر کړی حتی له جنګ سره یی مخالفت څرګند کړی دعسکرو تجهیز یی ندی کړی حتی منع دجنګ یی کړیده ما ورته مخامخ وویل چي حضرت صاحب مجاهدین ستړی ندي بلکی هغوی دا جهاد دخپل ایمان یو جز بولی اوپدی عقیده دی چی جهاد به تر قیامته جاری وی نه زه ستړی یم نه مجاهدین ستړي دي ته ددی نمایندګی مه کوه څکه جهاد دخدای عزت او کرامت دی چی یوه قوم ته یی ورکوی .

ارماکورا هم دافغانستان په برخه کي دملګرو ملتو پرنقش انتقاد وکړ ، اوزموږ دموقف سره يي ملاتړ وښود

حضرت صاحب هلته غلی شو دهیئت دلیږلو له عواقبو مو هم خبر کړ او موږ تری منع هم کړ هغه وخت ده دهیات رسمی اعلان کړی و خو زموږ دفشار له امله یی پریښود .

> عسکرو داشپزي او نانوايي په وخت کي له مجاهدينو سره مرستي کولي خوپه جنګ کي مونه دي استعمال کړي دنقشو او توپچي په هکله يي ډير لږ معلومات راکړي دنقشي په رابطه اودګرديز دداخلي حال په رابطه موله جنرالانو څخه لږه او ډيره استفاده کړي ده

مطلب داچی په حضرت صاحب کي دامام شرایط نشی موندل کیدای دده د ریاست جمهوری مرکز په یوه کرایی مکان کی دی په افغانستان کی دیوی میاشتی دقرار ځای نلری تنفیذ دحدودو یی ندی کړی یوه مظلوم ته یی امن ندی ورکړی داشروط دامامت بالکل ورسره نشته ده ته هیڅ ډول بعیت ندی شوي ځکه هلته کاندیدان معین وخو په مجموعه کی په ۴۵۰ نفرو کی ۱۴۰ نفرو ده ته رایی ورکړی نوری مخالف دی نورو یی بل چاته رای ورکړه چی داخو په غربی قانون کی هم نشی کیدی په ټول افغانستان کی چی په څلوروحصو یی تقسیم کړی ۳ برخی دده مخالفی دی ، په هغی کی هم دډیرو طبقاتو نمایندګان موجود نه وو ، یواځی داوو تنظیمونو دغړیو یوی برخی رایی ورکړی ځکه خوداکثریت له خوایی منتخب نشو کېلی دی دیوه واړه اقلیت له خوا منتخب شوی او هغه هم داضطراری حالت له مخی داکار وشو .

پوښتنه : تاسی له ارماکورا سره ملاقات درلود له هغه سره په ملاقات کی په کومو ټکو خبری وکړی ؟

ځواب : دبندیانو په رابطه خبری وشوی هغه بندیان وکتل پدي هکله به نوموړي خپل رپوټ خپله اعلان کړي څه لږ خبری یی دسیاسی حل په رابطه هم وکړی خو ماورته څرګنده کړه چی داپنځه فقری دافغانانو په حق کی بی انصافی ده باید اول دنجیب حکومت غیر قانونی اعلان شوی وای او نماینده یی له ملل متحد څخه ایستل شوی وای بیا به خپله اوربند رامنځ ته کیده ظالم او مظلوم معلوم شوی ندی او ظالم او مظلوم ته په یوه سترګه کتل شوی ترهغی چی رژیم نه وی نسکور شوی زموږ جهاد به جاری وی ځکه داګوډاګی رژیم دی .

ارماکورا هم دافغانستان په برخه کي دملګرو ملتونو پر نقش انتقاد وکړ او زموږ دموقف سره يي ملاتړ وښود

دنبوی (ص) لمرزرینی ...

ځای کی جوړ کړی وو ، پدی ځای کی غر تاوراتاو وو اودنیمې دایری په شکل کی یی دیوی دبرینی کلا رنګ غوره کړی وو ، لدی ځایه مخامخ پلن میدان ته یوازی دومره لار وه چی دهغی دفاع په ښه توګه کیدای شوه ، رسول الله (ص) داسلامی لښکر صف بندی پداسی ډول کړی وه چی داحد دغره اوږده او تاو راتاو کړی دهغوی شاته پاتی کیده ، چپ لوری ته یوازی یوه دره داسی وه چی له هغی لاری دښمن ناڅاپی حمله کولای شوای پدی ځای کی رسول اکرم (ص) دعبدالله بن جبیر (رض) ترقوماندی لاندی پنځوس تنه تیر بازان ځای پر ځای کړی وو، او هغوی ته یی هدایت وکړ چی باید لدی لوری نه په هیڅ صورت دښمن پرمخ راتګ ته پری نښودل شی رسول الله (ص) هغوی ته وفرمایل :که فتحه وی اوکه شکست تاسی دغه دره مه خوشی کوی ، حتی که مو ولیدل چی موږ مارغانو اوچت کړلو ، بیا هم له خپلو مورچو څخه ونه خوځیږی داسلام دلښکر دښی اړخ (میمنه)سپه سالار حضرت زبیر (رض) دکیڼ اړخ (مسیره) سپه سالار مقداد (رض) او دمخامخ لوری (مقدمه) قوماندان حضرت حمزه (رض) وو، حضرت مصعب بن عمیر(رض) دلښکر بیرغ وړونکی (علم بردار) وو ، دقریشو لښکر په مخامخ پراخ میدان کی وو ، دهغوی دلښکرو په ښی اړخ کی خالد (رض) اوعکرمه بن ابی جهل وو ، دڅو وړو وړو مقابلو څخه وروسته دواړه لښکری سره په جګړه شوی ، خونړی نښتی وشوی ، دمسلمانانو لوری له لومړی سرڅخه بریالی ښکاریده بالاخره دکفارو پښی وښویدی اوپه تیښته یی پیل وکړ ، ولی داسلام لښکر دهغوی دتعقیب کولو اوپر هغوی دکاری ضرب لګولو پر ځای او دی واړه بری ته دلویی فتحی درنګ ورکولو پر ځای دغنمیت دمال په ټولولو بوخت شو .

په دره کی ځای پر ځای تیر اندازنو چی کله ولیدل ، مسلمانانو میدان ګټلی دی او دکفارو لښکر تیښته کړی ، مسلمانان دغنمیت مال راټولوی، نوددی لښکر اکثریت غړو هم دغنیمتی مال دټولولو په طمعه خپل ځایونه پریښودل عبدالله بن جبیر (رض) ډیر کوشش وکړ چی هغوی راوګرځوی مګر هغوی وانوریدل یوازی شل کسه دهغه مبارك سره پاتی شول ، خالد (رض) (چی دقریشو دلښکر دښی اړخ قوماندان وو) کله چی دتیښتی په حال کی ولیدل دره خالی ده ، خپل دری سوه عسکر یی ورسره روان کړل اودیوه میل اوږده چکر څخه وروسته دری ته داخل شو حضرت عبدالله بن جبیر (رض) اودهغه ملګرو خپل ځانونه قربان کړل ، مګر دهغوی مخه یی ونشوای نیولای .

خالد (رض) اودهغه لښکر له دری څخه ووت اودمسلمانانو له شا او کیڼ اړخ څخه یی پداسی حال کی چی دکامیابی چیغی یی وهلی ، حمله وکړه ، دده داواز په اوریدلو سره نور کفار هم پداسی حال کی چی په تیښته وو په شاراوګرځیدل او دجنګ نقشه بدله شوه ، مسلمانانو دبد نظمی له امله ګټلی جنګ وبایللو او زیات ځانی تلفات ورواوښتل. همدارنګه دخندق په جنګ کی چی قریشو په شاتګ وکړ دشاله طرفه یی چی دخپل حفاظت لپاره په کومو دوو پوځی قوماندانانو اعتماد وکړ ، له هغی څخه یو خالد (رض) وو ، دحدیبیی دسولی په وخت کی چی دقریشو کومه پوځی ډله دمسلمانانو دنقل اوحرکت دکنترول لپاره موظفه شوی وه دهغی دقوماندان هم خالد (رض)وو دخالد (رض) کورنی هم دقریشو دنورو کورنیو په څیر داسلام او حضرت محمد (ص) سخته دښمنه وه دخالد پلار ولید اودهغه دتره زوی ابوجهل پدی دښمنی کی ترټولو وړاندی وو ، ددوی دغه دښمنی تریوه حده په فکری او نظریاتی بنیاد باندی ولاړه وه ، حضرت رسول کریم (ص) چی کوم لوری ته خلك دعوت کول ، هغی ددی خلکو ژوند دهغوی کړه وړه، او شپه ورځ له یوی مخی بدلول غوښتل ، دهغه څه بدلول چی عرب ورسره عادت وو ، او ډیر ورته ګران وو ، ددی دښمنی سبب تریوه حده کورنی او قبیلوی رقابت هم وو ، دحق لوری ته دعوت ورکونکی حضرت محمد (ص) دبنی هاشم په کورنی پوری تړلی وو ، پداسی حال کی چی بنو مخزوم خپل ځان دقریشو دمشری اهل ګڼلو ، کله چی دحضرت محمد (ص) نیکه عبدالمطلب وفات شولو ، اودقریشو دمشری خبره راپیدا شوه ، نو دخالد (رض) پلار ولید هم ددغه مقام ددعوه درلودونکو څخه وو ، پداسی یوه حالت کی دبنی هاشم دکورنی دیوه غړی له خوا دغه اعلان چی الله (ج) هغه په پیامبری سرفرازه کړی اودانسانی نړی دهدایت او رهنمایی لپاره یی مبعوث کړی ، دبنی مخزوم کورنی پر سردارانو باندی ډیره سخت تمام شو ، ځکه نو هغوی درسول کریم (ص) په مخالفت لاس پوری کړ، او ویل به یی چی که الله (ج) څوك نبی جوړول نو زموږ څخه به یی جوړ کړی وو ، هغوی داخیال درلود چی دبنی هاشم کورنی دنبوت دعوا په درلودلو سره غواړی پر موږ فوقیت ترلاسه کړی .

دبنی مخزوم کورنی څخه به ابوجهل دبنی هاشم کورنی ته ویل « کله چی دسخاوت شجاعت ، لوی والی ، عزت او شرف مقابله وشوه او اسونه په میدان کی په زغلیدو شول ، او موږ مسابقه وګټله ، نو پداسی وقت کی تاسی داخبره راپیدا کړه چی په موږ کی نبی راپیدا شوی »

نوربیا

خوست له آزادی ...

سلسله پکی پیل شوه .-

دخوست فاتح دجمعی په لمانځه کی په خپل ګهون سره دټولنیز و اړیکو داعادی او ضروری پروګرامونو په کار اچونی لړی پیل کړه له همدځایه ده چی په خوست کی دیوه اجتماعی اسلامی سیستم دفعالیتو په لور یو ستر قدم واخیستل شو . ددی په څنګ کی دمحترم حقانی صاحب دپاملرنی او هدایت له مخی دښوونځیو او مدرسو تأسیس او فعالول اوتعلیمی سهولتونو ته دپاملرنی په لړ کی نوی تعلیمی مرکزونه اوڅانګی فعالی کړی شوی .

په زراعتی برخه کی هم تریوه حده پرمختګ شویدی که څه هم ددښمن له خوا دغورځول شویو ماینونو ویره دیوه خطرناك تهدید په توګه موجوده ده او پدی رابطه دماین پاکولو دمؤسسو کار ډیر په سستی چلیږی خو خلکو دځینی روایتی وسایلو له مخی دماین پاکولو چاری پیل کړ ی چی ښه نتائج یی ورکړی دی .

دخوست دښار مارکیټونه او دوکانونه هم وړوړو خپل پخوانی رونق خپلوی اوپدی برخه کی هم دابادی روښانه نخښی ځلیدلی دی.

پدی توګه دخوست له آزادی وروسته دخوست دابادی مرحله دخپل تکامل پړاوونه وهی او ددی زیری او پاڼ ورکوی چی دجګړی ټولی ورانی به دکابل دمزدور رژیم له شپږ سقوط وروسته ډیرژر ودانی او ابادی شی.

زموږ ستونزې او دحل اساسي ...

بری په وړاندی خنډونه او څنډونه رامخی ته کړی دی .

له یوی خوا څومره چی زموږ اسلامي انقلاب او جهادی پاڅون دوروستی بری پولی ته ورنږدی اوخپل حساس او سرنوشت ټاکوونکی پړاو ته ورداخلیږی هومره یې په وړاندی دکفری او طاغوتی ځواکونو توطیی زیاتی ، او دګډو سازشونو لړی یې ګړندی او کړی یې پراخیږی .

کفری او طاغوتی ځواکونه په افغانستان کې داسلامي انقلاب بری چې په نتیجه کې به یې خامخا دمجاهدینو په لاس یو سوچه اسلامي حکومت جوړیږی دځان لپاره سترخطر بولی نو په بیلو بیلو رنګونو او نیرنګونو هڅه کوی چی زموږ اسلامي انقلاب له خپل اصلی مسیر څخه منحرف اومجاهدافغانان له خپل ستر ارمان څخه منصرف کړی .

دغه توطیی که پرون دجینوا دمعاهدی دلاس لیك تر پردی شاته طرحه شوی وی اوکه دافغانستان دقضیی دسیاسی سوله ایز حل په بهانه دملګرو ملتونو دپنځه فقریزه وړاندیز په نامه رامخی ته شوه او که نن په المان یا جینوا او .... کې دافغانستان دقضیی دحل لپاره دکنفرانسونو او سمینارونو دجوړولو په بڼه کیږی او که ... هدف یې تری دجهادی قوتونو کمزوری کول دهغوی تر منځ دبی اتفاقی اور ته لمن وهل دجهاد په لیکو کې درکود او سکوت حالت رامنځ ته کول اوپه وروستی تحلیل کې داسلامي حکومت دجوړیدو مخه نیول اوپرځای دیوداسی بی حیثیته مذبذب ، لاسپوڅی ، بی واکه اوبی ځواکه حکومت جوړول دی چی داسلام اوافغانستان دښمنانو ته پکی دهر ډول لاس وهنو زمینه مساعده وی .

له بلی خوا تر ټولو مهم او اساسی عامل چی زموږ دبری په وړاندی خنډ دی هغه دجهاد دواحد سیاسی قیادت نشتوالی دی ، دمتعددو جهادی قیادتونو موجودیت اودهغوی تر منځ خپل منځی اختلافاتو مسلی دجهاد دسیاسی او نظامی بعد تر منځ هماهنګی سخته زیانمنه کړی ده

دغو اختلافاتو ځان غوښتنو او دقدرت غوښتنو بی ځایه هوسونه زموږ دانقلاب په سیاسی بعد تیاره خپره کړی او زموږ ټول مومن وګړی یې په یو ځوریدونکی حالت کې واقع کړی دی .

له اوسنی بحرانی حالت څخه دجهادی قوتونو دراپستلو اوداسلامی انقلاب دبری په اړه دموجودو جهادی قیادتونو په نظرونو او دریځونو کې دومره توپیر موجود دی چی کله کله یې پر تلنه هم مشکله وبریښی .

او همدغی ربړی دمزدور رژیم چې دمجاهدینو له خوا دمحاصری او رانسکوریدو په درشل کې دی دپاینښت شپی او ورځی تراوسه را اوږدی کړیدی .

په دی حساسو شیبو کې چې زموږ اسلامي انقلاب دبری په وروستی پړاو کې داسلام او افغانستان ددښمنانو دتوطیو اودسیسو له سخت خطر او ګواښ سره مخامخ او دبی شمیره مومنو افغانانو دځانی او مالی قربانیو په برکت دګټلی جهاد دبایللو او دجهاد ثمری دتالا ترغه کیدو ویره موجوده ده ، زموږ دجهادی قیادتونو په نظرونو اودریځونو کې لا اوس هم په یوه اویل ملحوظ دپخوا په شان جلا والی شته پرته له دی چی دجهاد او انقلاب ستر ارمان ته په هر څه ترجیح ورکړی دستونزی دحل په اړه هر یوداسی طرحی او وړاندیزونه لری چی له یوی مخی پکی ددوی شخصی تنظیمی ګټی او غوښتنی منعکسی وی .

دی ته نه ګوری چی هلته کفری طاغوتی ځواکونه پخپل ټول قوت سره زموږ داسلامي انقلاب دناکامی لپاره شومی هڅی کوی اوپه دی لړ کې خپلی توطیی اودسیسی یوه په بل پسی په عمل کې پلی کوی ، هلته او دلته دافغانستان دقضیی دسیاسی حل په نوم غونډی کنفرانسونه او سمینارونه جوړوی او دافغانستان دراتلونکی حکومت بڼه او حتا دمشری لپاره یی خپل مطلوب اشخاص په ګوته کوی خو زموږ جهادی مشران دداسی بیلابیلو نیمګړو طرحو چې دناکامو تجربو له تکراره پرته بل څه نه دی نه دمجاهد ملت غوښتنو او پوښتنوته دقناعت وړځواب ویلای شی نه ستونزه حل کولای اونه ددرد دوا کیدلی شی بی ځایه خپل وخت تیروی .

دحل لار داده چی جهادی مشران ، دینی علما ، دجهادی سنګرونو اتل قوماندانان ، با دیانته سیاست پوهان ، دی دشرعی احکامو په رڼا کی په یوه داسی طرحه باندی موافقه وکړی چی دسکوت او رکود موجود حالت له یوی مخی مات ددین او وطن دښمنانو توطیی شنډی او زموږ داسلامي انقلاب دوروستی بری په وړاندی پراته خنډونه او څنډونه له منځه یوسی.

ومن الله التوفیق

دګردیز په جګړه کې دخدای ...

چی موږ فارم باغ ته ننوتلو پدی جنګ کی دښمن پر موږ پنځه ځله حمله وکړه ، زموږ سره چی څومره مجاهدین وو هغه اکثره شهیدان شول زما سره یوازی یو ټانك وو ، او دټانك نه علاوه زما سره پنځه تنه پیاده مجاهدین وو ، چی ټول مقدار مو لس یا دولس تنو ته رسیده چی موږ پدی ورځ سخت مقاومت وکړ چی بیا پدی ورځ تر غرمی وروسته نور مجاهدین زموږ دورور حاجی ابراهیم تر مشری لاندی راغلل ، اودښمن محاصره یی ماته کړه او دهغوی حمله یی په شاوتمبوله ، نو دغه ډیره سخته ورځ وه.

پوښتنه : دجهاد ددوران دیوی ډیری خوږی خاطری کیسه مو هیله ده واوروی ؟

ځواب : موږ دروژی دمبارکی میاشتی په پنځلسم دخوست دفتحی دننوتلو په ورځ چی زموږ په زړونو او دماغونو کی ددی پلان نه وو چی موږ به پدی ورځ خوست فتحه کوو ، په همدی ورځ زموږ ټول ټانکونه خراب وو ، او فقط یوټانك موجوږ وو ، اوپدی ورځ موږ نه غوښتل چی خوست ته ننوزو ، فقط داسی انداخت مو کولو چی دغه منطقه محاصره وساتو ، خو ددی ورځی په مابین کی خدای پاك داسی وکړل چی زموږ خپل ټانکونه ټول فعال او جوړ شول ، او تردی وروسته جنګ زیات شو ، شدت یی وموند او موږ خپلو قواوو ته قومانده ورکړه چی حکومت دسقوط سره مخامخ دی او تاسی پرمخ لاړشی ، او په همدی ورځ موږ ته خدای پاك داسی یوه لاره برابره کړه چی موږ څلور ټانکونه هم په غنیمت ونیول او په همدی ورځ مو په دښمن باندی بیرته استعمال کړل ، نو دا زموږ په ټول ژوند کی لویه فتحه او لویه خوشحالی وه

پوښتنه :دشهید سلیمان شاه دزرهدارو غونډ څوتنه منسوبین او مجاهدین لری او دی غونډ دخدای (ج) په لاره کی څومره شهیدان او ټپیان ورکړی؟

ځواب : تقریباً د۵۰۰ په شاوخوا کی پرسونل په غونډ کی لری ، ددی غونډ لومړی تشکیل تقریباً ۲۰ کسه وو چی هغه زما شخصی او خصوصی ملګری وو وروسته وروسته اوس دخوست او ګردیز په جنګ موږ تقریباً ۵۰۰ تنه پرسونل لرلو اوپدی کی زموږ دغونډ مربوط ۵۰ څخه تر ۷۰ پوری شهیدان شوی د۱۳۰ څخه تر ۱۵۰ پوری ټول زخمیان زموږ دغونډ شوی .

پوښتنه : محترم حاجی صاحب دګردیز په وروستیو عملیاتو کی دجګړی په جریان لږڅه واچوی؟

ځواب : دګردیز په جنګ کی دخدای (ج) ډیر رحم او کرم وو ، موږ دکامیابی دومره لوی سوچ نه وو کړی ، خدای تعالی په ډیر کم وخت کی موږ ته داسی فتوحات په لاس راوستل چی هغه دهیڅا په تصور کی نه وه موږ چی کله جنګ پیل کړ داول خط دکمربند پوستی مو په اوله ورځ ماتی کړی ، ددوهم کمربند چی سخت کمربند وو چی په هغی کی ډیر زیات زرهدار ټانکونه ، توپچی بطریی او ثقیله وسلی موجودی وی په دوهمه مرحله کی زموږ پروګرام دانه وو چی دومره مخکی تیر شو ، زموږ فقط داغزنی قرارګاه پروګرام وو خو چی کله مو دغه قرارګاه فتحه کړه نو تر هغه وروسته دتوپچی ٦٧ غونډ تر بنوزیو ، تر حلیم کلا پوری مجاهدین ورسیدل .

پوښتنه :په پای کی دجهاد هنداری لوستونکو او خپل مجاهد ملت ته څه پیام لری ؟

ځواب :دجهاد او مجاهدینو لپاره زما داپیام دی چی مجاهدین بایددخپلو شهیدانو او زخمیانو وینه په داسی خلکو سره تجارت ونکړی ډیرزحمت داده چی زموږ مجاهدین دافغانستان تر ازادی وروسته دغه جهاد جاری وساتی ، او نور مسلمان ملتونه هم دکفارو له تسلط څخه خلاص کړی او دهغوی سره مرسته وکړی ..

زه ولی مسلمان ...

او راهبانه ژوندانه تیرولو تعلیم نه ورکوی بلکی انسان دژوندانه په غورځو پرځوکی دخپل مقصد په لورهلو ځلو ته هڅوی ، اسلام یوازی دځو دینی فرایضو نوم نه دی بلکی ددنیایی ژوندانه په هر اړخ کی پراخ تعلیمات لری ، ګام په ګام انسان ته لاره وربښیی ، اسلام دنیا داخرت کښت او کرونده ګڼی ، او انسان ته حکم کوی چی ددینی مناسکو تر څنګ له دنیاوی ضروریاتو نه هم غافل نه وی ، رښتیا خبره داده چی په اوسنی ساینس دوران کی یوازی اسلام هغه مذهب دی چی له پر مختللی دنیا سره ملګری کولی شی .

داسلام ډیره ستره ښیګڼه داده چی دتنګ نظری او تعصب سره سخت مخالف دی ، یوازی له خپلو پیروانو سره نه بلکی له ټول بشریت سره دنیکی او احسان امر کوی ، دمساوات او عدالت حکم ورکوی او په دی کی دمذهب ، نژاد اورنګ دتغیر هیڅ اثر نشته .

اسلام دنفاق او بیلتون نه داتحاد امر ورکوی ، او رښتیا داده چی دلومړی ځل لپاره یی انسان ته دانسانیت سبق ښولی . زه له تیرو پنځوکالو راهیسی داسلام پیرویم ، کوم شی چی زما ایمان ته قوت وربخښلی هغه داسلام سپیځلی او لوړ اصول دی ددغه دین دنړیوالی ورورۍ روحیه ده ، بی مثاله مساوات ، علم او معرفت دی چی زما په زړه او دماغ کی یی دحقیقت ډیوی بلی کړی دی .

اسلام یوداسی مذهب دی چی سرترپایه علم او عملی دی ، او باید ووایم چی اسلام یوغوره دین دی ، ددی پر خلاف عسویت نه یوازی له وحدانیت نه منکردی بلکی پر بشریت ډیر روا نعمتونه بندوی ، څوك که دعیسویت ریښتینی پیرووی باید له دنیا یی ژوندنه ګوښه په غزلت کی کښینی ، خو په اسلام کی ددنیاوی ټولو نعمتونو څخه ښه ګټه پورته کولی شو ، نه موږ ته یوازی دجومات په یوه کونج کی دژوند تیرولو امر شته او نه په ویرانو او کنډوالو کی په ژوند تیرولو مجبور یو ، که انسان ددی لپاره پیدا کړای شوی وای چی په ویرانو کی په ګوشه نشینی کی ژوند تیر کړی بیایی له پیدا کولو نه مقصد څه ؤ ؟

دایوازی اسلام دی چی انسان دپیداینښت اصلی مقصد په ګوته کوی او انسان باید په ټولنه کی ژوند وکړی له دنیا اودنیاوی نعمتونو نه ګټه واخلی خوددی ترڅنګ خپل خالق او رب (ج) هیر نه کړی او دهمغه رب له دستور سره سم تصرف وکړی نوځکه خو چی کله ما اسلام منلی دی له همغی ورځی نه می ډیر سکون او ارام موندلی دی ، زما دنیا هم سمسوره شویده او اخرت هم .

انشاألله .

براعظم آسیا ونظام جدید ...

ماوتسانونگ سیاست جدید را اتخاذ نمود .

دولت کمونست چین روس ها وامریکایي ها را تحریك می کردند تابین شان برخورد نظامی صورت گیرد.ماؤبه این نظر بود که در برخورد اتومی بین روس وامریکا هر دوابرقدرت به اندازه ضعیف خواهند شد که در نتیجه ان چین منحیث یگانه ابر قدرت جهانی بروز خواهد کرد

ولی ماؤ به این ارمان خویش نایل نگردید و شرایط جهانی به نفع ایالات متحده امریکا تغیر خورد به این معنی که امپراطوری کمونستی روس بدو ن برخورد نظامی مستقیم با امریکا نابود گردید وایالات متحده امریکا یکه تاز جهان گردید ولی بازهم چین دارای موقف وحالت میباشد که به تناسب کشورهای دیگر که مخالف نظم جدید جهانی بوش میباشد به مراتب خطر ناکتر بوده ورهبری کمونستی دولت چین در این مورد به اقدامات جدید تری نیز دست زده است .

ازیك طرف سیستم دولتی چین اشتراکی یا کمونستی است که به طور طبیعی ضد سیستم سرمایه داری ونظم جدید جهانی ایالات متحده امریکا میباشد از سوی دیکر چین کشوریست که دارای سلاح های اتومی بوده وازجمله پنج قدرت اتومی جهان بشمار می اید علاوتاً چین دارای پر سابقه ترین دستگاه استخباراتی در جهان است که از تجارب خاص برخوردار میباشد وبه نیروهای غیر کمونستی ایکه میخوهند این دولت کمونستی رانیز از داخل منفلق نمایند مشکلات فراوان راببار خواهند اورد .

جاپان کشور دیگري اسیایی میباشد که در جهان منحیث ابر قدرت اقتصادی ظهور نمود وبا وجود انکه بعد از جنگ دوم جهان تحت نفوذ ایالات متحده امریکا میباشد اما باز هم درساحه اقتصادی درد سری رابه ایالات متحده امریکا ایجاد نموده است .

فلهذا ایالات متحده امریکا راجع به عملی ساختن پلان های خویش در جهان بخصوص قاره آسیا با پرابلم های متنوع روبرو میباشد .

این قانون خداوند (ج) است که پدیده های رادر جهان خویش می افریند رشد و تکامل می دهد وبالاخره زمانی میرسد که انها را به حالت نزولی سوق دهد.در تاریخ این کره خاکی نیز امپراطوری ها وابر قدرت های بی شماری ظاهر گردیده ونابود گشته اند واین پروسه دوام خواهد یافت لاکن همه مردم مسلمان جهان از جمله مردم مسلمان وباشهامت افغانستان باید در هر حالت و هر نوع شرایط اتکا به خداوند (ج) نموده با وحدت ویکپارچکی توده های مسلمان علیه هر نوع دسایس استعماری واستکباری به طور مداوم وخستگی ناپذیر مجادله نمایند که دراین معرکه خداوند (ج) باماست وما پیروز خواهیم شد . انشاالله

دهیواد په تودومورچلو کی

کابل :

دقوماندانانو شورا نظامی دفتر دلوگر له ولایت څخه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دکابل ښار په جنوب ختیزه کی دچهاراسیاب ولسوالی دموسهیی په سیمه کی دکابل ښار دامنیتی کمربند یوه ستراتیژیکه پوسته فتحه کړی او ددښمن څو تنه عسکراو صاحب منصب یی وژلی .

مجاهدینو پدی عملیاتو کی یو میل هاوان ، څلور میله سپکی وسلی اویو مقدار مهمات په غنیمت نیولی .

کندهار :

په کویټه کی دمیدیا نمایندگی رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دکندهار ښار اوهوایی ډگر دامنیتی کمربند پر پوستو برید کړی ، چی ددښمن دیو شمیر پخو سنگرونوپر ویجاړولو برسیره یی درژیم قواوو ته سخت مالی اوځانی تاوان اړولی .

رپوټ زیاتوی چی پدی برید کی دمرگ ژوبلی نه علاوه مجاهدینو درژیم دابوس توپ یو سنگر ویجاړ کړی اوپه مهماتو بار یو موټر یی دپرسونل سره داورلمبه کړی .

سمنگان :

دقوماندانانو شورا نظامی دفتر رپوټ ورکړی چی دسمنگانو ولایت دحضرت سلطان دعلاقداری درشید دوستم دملیشه قواوو یو قوماندان دخپلو ۱۵ تنو ملیشه وو په گډون مجاهدینو ته تسلیم شول .

دغه ملیشه وو ۱۲ میله کلاشینکوفونه ، دوه پی کا ماشینداری یو میل ارپی ، جی اوه راکټ اویو مقدار مهمات له ځان سره مجاهدینو ته راوړی دی .

وردگ او میدان :

دقوماندانانو دشوری نظامی دفتر دوردگو ولایت دمیدان ښار څخه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دمیدان ښار په دری کیلو متری کی دنهرفولاد په سیمه کی درژیم ۲ عرادی ټانکونه دسپرلیو سره هغه وخت ددرندو وسلو په ډزوداورلمبه کړل کله چی دنوموړی سیمی پوستوته یی مهمات وړل .

همدارنگه رپوټ زیاتوی چی مجاهدینو درژیم دقواو په ۳۲ ام غونډ ددرندو وسلو یو برید وکړ چی په نتیجه کی دمهماتو یوه ډیپو داورلمبه شوی چی دوسلو دچاودنی او داورلمبی دوراندی څخه معلومیدی .

رپوټ وایی چی په دغه برید کی ۳ عردای زغره وال ټانکونه ، سوځیدلی اودغونډ دعراده جاتو ترمیم ورکشاب هم له منځه تللی دی.

په بیروت ښار باندی داسرائیلی الوتکو وحشیانه بمباری

لبنان ، رویتراژانس :

داسرائیلو جنگی الوتکو تیره ورځ په لنبان کی دبیروت ښار په جنوبی ۱۵ کیلو متری کی دنعمه په سیمه کی دفلسطینی مجاهدنیو دیوی ډلی په مرکزونو اوپه بیروت کی دفلسطین مهاجرینو په کمپونو وحشیانه بمباری وکړه چی دهغی په نتیجه کی ۱۲ تنه فلسطینیان چی بی گناه ښځی اوماشومان هم پکی شامل دی شهیدان شول اویو زیات شمیر نور سخت ټپیان دی .

په رپوټونو کی ویل شوی چی دشهیدانو په ډله کی دری ماشومان چی عمرونه یی ۱۸ میاشتی ، دوه نیم کاله او پنځه کاله ښودل شوی هم شریك دی .

بل لوری ته په نیول شوی بیت المقدس کی داسرائیلو یوه پوځی ویندوی ادعا کړی ده چی ددوی الوتکو دفلسطینی ویره اچوونکو او تروریستانو څو مرکزونه تباه کړی اودوی په سلامتی سره بیرته راگرځیدلی .

دافغانستان اوسنی وضعه د ظاهرشاه دبی کفایتی نتیجه ده

دالبنیان له خبری آژانس سره دیوی مرکی په ترځ کی مولوی صاحب منصور وویل :

دافغانستان د۱۳ کلنی لانجی دحل لپاره اودبهر نه دتپل شویو څیرو اوپروگرامونو سره دمقابلی او مخنیوی لپاره باید د۵۰۰ یا ۶۰۰ تنو علمی او جهادی شخصیتونو څخه چی اهل حل وعقد وی یوه مقتدره شورا جوړه شی او ددی کار لپاره باید په سمدستی توگه دټولو جهادی ځواکونو په گډون یو ۵۰ کسیز کمیسیون وټاکل شی ، ترڅو ددی شورا لپاره لایحه جوړه او افراد یی تشخیص کړی .

دالبنیان آژانس ددی پوښتنی په ځواب کی چی ایران دظاهرشاه دبیا راوستو لپاره هلی ځلی کوی پداسی حال کی چی تاسی دهغی دراتگ مخالف یاست ، نو ایا کار به ستاسی په روابطو منفی اغیزه ونکړی ؟

مولوی صاحب منصور وویل ظاهرشاه خپل امتحان ورکړی او افغالن ولس چی له کومی بلا سره لاس او گریوان دی داهرڅه دهغه دبی کفایتی نتیجه ده نو بناً موږ له خپلو گاونډیانو څخه هیله کوو چی زموږ دملت دارادی پرخلاف به گام نه پورته کوی .

مولوی منصور دقیادی شورا دطرحی په اړه دیوی بلی پوښتنی په ځواب کی وویل :

، دحزب اسلامی (مولوی صاحب خالص) داتحاد اسلامی اودشعیه وو دوحدت اسلامی دگډون پرته دغه طرحه ناقصه ده اودستونزی دحل جوگه نده .

په امریکا کی ۲٤۰۰۰ کسان وژل شوی

واشنگتن دجدی ۲۰ مه :

دعدلیی او محکمی په هکله دامریکا دسنا دمجلس دیوی کمیتی دریوټ له مخی ویل شوی چی دتیر میلادی کال ۱۹۹۱ په ترځ کی په امریکا کی ۲٤۰۲۰ تنه په قتل رسیدلی .

پداسی حال کی چی یو کال مخکی دغه شمیر ۲۳٤۳۸ تنه وو.

دقتل دغه واقعات دکانادا ، انگلستان ، فرانسی او جرمنی اوجاپان کی دقتل دمجموعی شمیر په نسبت دوه نیم چنده زیات دی .

رپوټونه وایی چی دقتل په شمیر کی دزیاتوالی وجه دمخدره موادو زیات استعمال ، دنویو وسلو پراختیا اوځنی نور تکی ښودل شوی نړیوال مبصرین پدی عقیده دی چی په لویدیزو ټولنو کی دنوی تمدن پراختیا ددی پر ځای چی خلك دارامی او سوکالی لوری ته راوبولی برعکس دوحشت لوټماری او ځنگلی توب لوری ته یی راکاږی .

روسیه واوکراین در مورد کشتي جنگي دربحیره سیاه به موافقه رسیدند

مسکو ، ٢٤ جدي :

بعد از يك سلسله مشاجرات بالاخره روسیه واوکراین در مورد کشتي جنگي قواي بحري شوروي سابق به موافقه رسیدند .

راپور هاحاکیست این دو جمهوریت موافقه نموده اند که به تمام ان معاهد هاي که بین انها به امضارسیده عمل صورت خواهد گرفت.

اوکراین و روسیه کمسیوني رابخاطر حل مسایل نظامي وازجمله معضله کشتي جنگي بحیره سیاه تعین نموده اند.

درخبر علاوه شده که اوکراین تصفیه سلاح هاي اتومي خود را طبق اعلان قبلي اغاز نموده است.

دالجزایر په ټولو ښارونو کي...

الجزیره، رویټر آژانس :

دالجزایر په وروستیو پارلمانی انتخاباتو کی داسلامی تحریك دبی ساری بریالیتوب څخه وروسته ددی هیواد پوځ تیره اونی دالجزایر په ټولو ښارونو کی خپل کنټرول ټینگ کړی .

دغه خبره *داسلامی نجات* دجبهی یوه مشر *عبدالقادر هاشافی دالجزیری په ښار کی په یوه مطبوعاتی کنفرانس کی کړی دهٔ.*

هغه وویل چی ده ته دټول هیواد له گوټ گوټ نه خبر رسیدلی چی په ټولو مهمو سیمو کی پوځ ځای پر ځای شوی خو ده داونه ویل چی دغه کار ولی شوی .

دنویو رپوټونو له مخي ویل کیږي چي دالجزایر جمهور رئیس شاذلي بن جدید پدي هیواد کي دپارلماني انتخاباتو ددوهم پړاو تر پیل دمخه د(جدي په ۲۲ مه) له خپلي دندي څخه استعفي ورکړي او ملي پارلمان هم منحل اعلان شوي دحکومت له خوا دده استعفي منظوره شوي رپوټ وایي جمهور رئیس تر استعفي وروسته دالجزایر پوځ ددي هیواد په مرکز الجزیره کي دمهمو دولتي ودانیو او ادارو مخي ته مورچي نیولي او دښار کنټرول یي په لاس کي نیولي دالجزایر صدراعظم دټلویزیون له لاري په یوه وینا کي ویلي دي چي پوځ دده دحکم مطابق پدي اقدام لاس پوري کړي ، اودهغي مقصد یوازي دحالاتو او امنیت کنټرول دي اوپوځ به هیڅ کله په سیاسي چارو کي مداخله ونکړي

دظاهرشاه سره به هم هماغه عمل کیږی چې له کارمل او نجیب سره وشو

البنیان خبری آژانس ، دجدی ۲۲ مه :

دافغانستان داسلامی اتحاد مشر استاد عبدالرب رسول سیاف دافغانستان له داخل څخه په یوه مخابروی پیام کی افغانستان ته دپخوانی مردود پادشاه ظاهر شاه دبیرته راستنیدو په هکله ویلی دی چی مجاهدین به دافغانستان دراتلونکی په هکله په خپله تصمیم ونیسی ، ظاهر شاه یا بل هر څوك چی راځی اویا یی څوك راولی دهغی حیثیت به هم دنجیب او دببرك دحیثیت په څیر وی ، او دهغه سره به هم هماغه عمل کیږی کوم چی دببرك سره وشو او اوس دنجیب پرضد روان دی .

استاد سیاف په خپل پیغام کی زیاته کړی موږ دخپلو هغو گاونډیانو ته چی موږ ته یی په خپله خاوره کی ځای راکړی او زموږ له اسلامی جهاد څخه یی ملاتړ کړی دمننی تر څنگ یو ځل بیا داخبره کوو چی په افغانستان کی یوازی مجاهدین او مهاجرین ددوی دوستان دی ، او که دوی دبل هر چا دراوستلو لپاره هڅی کوی په حقیقت کی دخپل ځان او خپل ولس پرخلاف عمل کوی. پدغه پیام کی چی دالبنیان خبری آژانس ته رامخابره شوی استاد سیاف پدی خبره ټینگار کړی چی دافغانستان دلانجی دحل په اړه چی کومی نړیوالی هڅی اوس جریان لری ددی ټولو هدف یوازی په افغانستان کی دمجاهدینو داسلامی حکومت له ټینگښت څخه مخه نیول دی .

استاد سیاف وویل چی دټولو دمخالفت سره سره به مجاهدین انشاالله خپل هدف ته رسیږی ، ځکه دالله (ج) غیبی مدد او نصرت له هغوی سره ملگری دی .

دظاهرشاه په راتلو سره به په هیواد کی دوینو ویالی وبهیږی

پیښور ، دجدی ۱۹ مه :

دافغانستان داسلامی حزب مشر مولوی صاحب محمد یونس خالص افغانستان یا پاکستان ته درتلل شوی پادشاه ظاهرشاه دراتگ په هکله دیوی مرکی په ترځ کی *ویلی دی چی دهغه په راتلو سره نه یوازی په افغانستان کی سوله او ارامی نشی راتلای بلکه ددی امکان شته چی په هیواد کی دهغه په راتلو سره دوینو ویالی وبهیږی ، او دده راتلل به په جگړی ځپلی ملك کی دبیلابیلو طبقو تر منځ دیوی نوی جگړی پیل وگڼل شی*

مولوی صاحب خالص دافغانستان په هکله دپاکستان په سیاست کی بدلون ته په اشاری سره وویل : داپه ښکاره ډول دامریکا دفشار اغیزه ده .

مولوی صاحب زیاته کړه مجاهدین به هیڅ چاته هم ددی اجازه ورنکړی چی دافغانستان په کورنیو چارو کی مداخله وکړی اودخپلی خوښی نظام پر موږ تحمیل کړی .

مولوی صاحب وویل : دروس ترتوټه کیدو وروسته امریکا غواړی په افغانستان کی داسلامی نظام دټینگښت مخه ونیسی اوپدی ډول غواړی په افغانستان کی دهغوی دخوښی نظام ټینگ شی .

هغه زیاته کړه چی اوس دافغانستان وضعه ډیره بدله شوی او ظاهرشاه یا دهغه په څیر نور کسان نشی کولای نور په افغانستان کی حکومت وکړی .

دهیت تحریر تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوسټ بکس (۱۰۳۳)
یونیورسټي ټاون پیښور
ټیلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضیا «ذهین بابري»